د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د توضيح پاڼو لړۍ

ديويد مينسفيلد او آدم پين
د ۱۳۸۲ کال مرغومی

# په افغانستان کې د نشه يي توکو پروړاندې مبارزه: د برياليتوب ماتې؟

## مندرجات

I. د برياليتوب غلطه بڼه؟ ۳
II. د طالبانو د بنديز ناکامېدل او د هغې ځای نيوونکي ۲
III. مغشوش کوونکې پيوستون او علني څرګندونه؟ ۱۲
IV. مخ پر وړاندې لارې ۲۲

## د ليکوال په هکله

ديويد مينسفيلد د نشه يي توکو د چاپيريال کار پوه دی. هغه ۱۷ کاله په هغو هيوادونو کې تېر کړي دي چې نشه يي توکي توليدوي او کوکنار پکې کرل کېږي. همدارنګه نوموړی په افغانستان کې د کليواله معيشت په تګلارو کې د کوکنارو د رول په اړه د سيمه ييزې څېړنې په تنظيمولو کې له ۱۱ کلونو څخه زياته تجربه لري.

آدم پين د تېرو ۲۰ کلونو راپديخوا د کليواله معيشت د مسايلو په هکله د هيمليين په غرونو کې (چې د اسيا په براعظم کې واقع دي) کار کړی دی . هغه په بريتانيه کې د ايست انګليا پوهنتون د پرمختيايي مطالعو له پوهنځي سره د څېړنيز همکار او همدارنګه په اپسله کې د سويسي پوهنتون د کرهنې ساينس له پوهنځي سره د ښارونکي پروفيسور په توګه دنده ترسره کوي.

## سريزه

په افغانستان کې د کوکنارو د کر موسم د نومبر په مياشت کې پيل کېږي. په ۲۰۰۹ کال کې د کوکنارو د کر د کميت په اړه وړاندوينه هم په همدغه مياشت کې پيل کېږي. د پخوانيو کلونو په څير، کله چې د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره (UNODC) د فبرورۍ په مياشت کې د کوکنارو د کر په هکله خپله چټکه کلنۍ سروې خپروي، په دغه موسم کې د کرل شويو کوکنارو د جريبونو په اړه وړاندوينه به ورو ورو لوړه شي، چې د رسنيو رپوټونه به تر پوښښ لاندې راولي او بالاخره به په راتلونکي موسم کې پاليسۍ يا کړنلارې ته بڼه ورکوي. دا ټول هغه حقايق دي چې په کوکنارو د کرل شويو سيمو اندازه، د اوږد مهاله بدلون د تګلارې ارزونه نشي کولای او همدارنګه دغه وړاندوينه د بدلون د څرنګوالي رامنځته کېدل يا له همدې کبله، د دغه بدلون دوام هم نه په ډاګه کوي.



هغه ستونزې چې د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د لاسته راوړنو د ارزونې سره مل دي په ځانګړې توګه د کرل شويو کوکنارو د جريبونو په برخه کې، د کوکنارو د کر د لامل په تېره بيا د برياليتوب يا پاتې راتلو په اړه د مغشوشتيا سره تړلې دي. د کر په کچه کې زياتوالی د نشه يي توکو پروړاندې هغه هڅو او کوښښونو ته راجع کېږي چې د دغه راز پاليسيو د ناکامۍ په هکله مسؤلې ګڼل کېږي، پداسی حال کې چې په ذکر شوي کال کې د کوکنارو په کر کې کموالی د برياليتوب په مانا دی. د بيلګې په توګه، په شمال، شمال ختيځو او مرکزي ولايتونو کې د کر په کچه کې کمښت په لومړي سر کې د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې برياليو هڅو ته منسوبېږي.[1] سربيره پردی، په نړيواله کچه د خوړو په نرخونو کې د زياتوالي، دترياکو په نرخ کې وروستی

۱ د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۸م کال،" (کابل: د ملګرو ملتونو اداره/ د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې وزارت، د ۲۰۰۸م کال د اګست مياشت).

کمښت، د غنمو په صادرولو باندې د پاکستان حکومت بندیز او په افغانستان کې د کم وربښت له امله د کوکنارو په پرتله د غنمو په سوداګری کې د پاموړ بدلون رامنځته شوی دی. په ۲۰۰۸م کال کې، په ډېرو لرېو سیمو کې بزګران پدی توانېدلي دي ترڅو د مصرف لپاره ډېر مقدار غنم چې په خپلو ځمکو کې یې کرلي وو ترلاسه کړي نسبت دی ته چې کوکنار وکري، خرڅ یې کړي او غنم پرې واخلي. په همدی ترتیب، د کوکنارو د کر په کچو کې د کموالي په رامنځته کولو کې د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د پالیسیو په پرتله محیطي او اقتصادي عواملو د پاموړ رول لوبولی دی.

په افغانستان کې د تېری لسیزې په اوږدو کې، کله چې د کوکنارو کر د پام وړ کلنی کمښت دوام ندی موندلی، نو د یو شمېر پېښو د منځته راتلو لامل ګرځېدلی دی. د کوکنارو په کر باندی د طالبانو د ۲۰۰۱م کال بندیز د بریالیتوب په څیر و ارزول شو، کټ مټ لکه څنګه چې د کر کمښت په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کلونو کې د ننګرهار او بلخ په ولایتونو کې ولیدل شو. دا ټول د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د هڅو د بریالیتوب د شواهدو په توګه اعلان شوي دي. تر اوسه هم، د روان بد امنیتي حالت سره سره د ننګرهار ولایت یو ځل بیا د ناڅاپی کامیابی په توګه څرګند شوی. څرنګه چې په ۲۰۰۲م کال کې د طالبانو د رژیم د نسکورېدو پسی د کوکنارو کر له سره رابرخیره شو، په ۲۰۰۷م کال کې په ملي کچه د کوکنارو د کر زیاتوالی چې هم د ننګرهار په ولایت کې د کوکنارو د کر د بیا ډېرېدو او هم په سهېل کې د روان بد امنیتي حالت په تعقیب رامنځته شو، یو ځل بیا د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د پالیسی ناکامي په ګوته کوي. په ۲۰۰۹م کال کې، د ننګرهار یا په نورو ولایتونو کې د کوکنارو کر ته بیا مخه کول چې په ۲۰۰۸م کال کې "له کوکنارو څخه د خلاسون" په څیر تشخیص شوی وو، دا ښایي یو ځل بیا د ناکامی تور لګونه له ځان سره راولي. بې له شکه، ځینې خلک به داسی وو ایي چې د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د پالیسی په هکله دی له سره غور وشي، دا ښایي یو ځل بیا د کوکنارو د رسمي کولو یا له هوا څخه د الوتکې په وسیله د دارو شیندلو له لارې د کوکنارو د ریښه ایستلو د اسانې او ګټورې کړنلارې لپاره تقاضاوی له سره منځته راوړي.

د حکومت او نورو ذیعلاقه خواوو لخوا د تحمیلي کړنلارې انفاذ، د کوکنارو کر د تحمیلي کمښت په موخه د اجبار له لارو څخه کار اخستل او په کورني او پراخ اقتصاد باندی د هغوی اغېزې د ډېرو خلکو په منځکې خپل اثر او زیاتېدونکې نارضایتي هم پرېښبي ده. ډېر وختونه د کوکنارو په کر باندی بندیزونو د هغو خلکو سره چې د اقتصادي او سیاسي قدرت څخه برخمن دي او یو اندازه عایداتي سرچینې هم په لاس لري مرسته کړې ده، چې د هغوی له ډلی څخه ځینی یې د نشه یي توکو په قاچاق کې لاس لري. د ۲۰۰۱م کال د کوکنارو په کر باندی د طالبانو بندیز، بزګرانو ته د کوکنارو د کر په موخه د پټې په سر په بیعانه ورکولو کې زیاتوالی راغی، چې دغه کار نه یوازې دا چې د ورپسی کال لپاره یې د کر لور ته بیا ګرځونه وهڅوله، بلکه همدارنګه د نویو خلکو پاملرنه یې هم د کوکنارو کر ته راواړلوله. په ۲۰۰۷م کال کې، ترڅو چې د کوکنارو کر د ننګرهار په ولایت کې بېرته لومړنی کچې ته ورسید، دا کار لکه د پخوا په څیر د نه اعتماد، نه پرځای شویو ژمنو، کمزوری او نه فعال اقتصاد او د تریاکو د لوړې بیې لامل وګرځېد. د کوکنارو د کرنې بنیادي عوامل په نښه کول—او په همدی ترتیب د کوکنارو په کر کیلی کې د دوامداره کمښت رامنځته کول—پداسی یو چاپیریال کې ډېر زیات ستونزمن کار بریښي.

د ډېری لنډې مودې په اوږدو کې د کوکنارو په کر کیلی باندی د دغه شان تحمیلي کمښت پروړاندې د منفي غبرګونونو سره سره، دغه هڅې اوس هم د بریالیتوب په څېر توضیح کېږي. کله چې د کوکنارو په کرلو کې د پاموړ کمښت رامنځته کېږي، ځینې والیان په انفرادي شکل پدی برخه کې د خپلو کوښښونو لپاره ستایل کېږي او نور ولایتي مشران ننګوي ترڅو له هغوی او د هغوی تعمیل شوی لارې څخه خپل ملاتړ اعلان کړي.[۲] حتی پرمختیایي مرستې د کوکنارو په کر کیلی کې د کموالي پربنسټ تخصیصېږي.[۳]

د کوکنارو د کرلو په کچه کې د بدلونونو په اړه بسیا کوونکې پوهه ښایي د افغانستان د سهیلي زون په اړه بحثونو کې تر

[۲] د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۷م کال،" (کابل: د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره/د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې وزارت، د ۲۰۰۷م کال د اکتوبر میاشت).

[۳] د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۸م کال."

ټولو ډير په ګوته شي. هلته، سره لدی چې د پټې په سر د بيعانې ورکولو نرخونه راغورځېدلي او په خاصه توګه د ترياکو خالص عايد هم ټيټ دی، خو بياهم د کر کيلی کچه لوړه ده، چې دا په ټيکاو، اقتصادي ودې او حکومتدارۍ کې د پرمختګ د رامنځته کولو د يوی ډېرې ژوری ناکامۍ په توګه د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې ناکامه پاليسي تر نيوکې لاندی راولي. د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د پاليسۍ د ملامتولو دغه هڅه د پوهی هغه پراخه ناکامي منعکسوي چې د پاليسۍ بحث محدودوي، او د ترقۍ اړوند د ډيرو اقداماتو د پرمختګ څخه مخنيوی کوي. د کوکنارو په کر کې کمښت به يوازې د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د ډيرو محدودو فعاليتونو د يوې ځرګندې او موازي مجموعې په نسبت چې برياليتوب يا ناکامي يې د کوکنارو د کر په سيمه کې د لنډ مهال بدلون په ښودلو سره ارزول کېږي، ممکن د تأمين شوي امنيت، اقتصادي ودې او حکومتدارۍ د پراخې پروسې په وسيله ترلاسه شي.

دلته د پام وړ ننګونه دا ده چې د هغه برياليتوب مقياس چې دا موضوع يې په ډاګه کوي، ايا د کوکنارو د کر په کچه کې کمښت په رېښتنې توګه د کوکنارو د کر څخه د وتلو دوامداره پروسه منعکسوي او يا په ساده ډول د سياسي فشارونو يا فزيکي/علني لاس وهنو لنډمهاله غبرګون دی. د کوکنارو د کر په سيمه کې کمښت په لازمه توګه د پرمختګ ښکارندوی نه دی ځکه کېدای شي هغه ځمکه چې دمخه د کوکنارو کر ته تخصيص شوی وي، او يوازی د يو کال لپاره د کوکنارو پرځای پری غنم وکرل شي او په راتلونکي کال کې د کوکنارو کر ته بيا مخه کړي.

په ټيکاو، اقتصادي ودې او ښې حکومتدارۍ کې مثبت بدلونونه له يوې خوا د کوکنارو د کر کيلی په سيمه کې کمښت، او د کوکنارو د کر څخه د خلاصېدو يو ډير ښه تلپاتی بدلون او د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د پايلو د برياليتوب په لور پرمختګ په ګوته کوي. په لنډ او منځني مهال کې ډير مناسب اقدامات ښايي د کليوالو د معيشت په تأمين کې پرمختګ وي. دغه پرمختګ د بنسټيز امنيت؛ ټولنيز خونديتوب په ګډون د خوړو د خونديتوب د کاميابۍ؛ او د اقتصادي ودې سره تړلي دي. سربيره پر دې، دا بايد روښانه شي چې ددغو اقداماتو په لور پرمخ تلل به د موقعيت، ټولنيز توکم - اقتصاد او وخت له پلوه توپير وکړي. هغه خلک چې له ښه امکاناتو څخه برخمن دي کولای شي د هغو خلکو په نسبت چې په ليری پرتو سيمو کې استوګنه کوي، لږ امکانات په لاس لري، او د ډير زيات خطر او بی ثباتۍ د ګواښ تر اغيزې لاندی دي، د کوکنارو کر په چټکۍ سره کم يا بالاخره بند کړي.

## ا. د برياليتوب نامناسبه بڼه؟


په کابل کې ډير شمېر پاليسي جوړونکو، ژوناليستانو يا د لويديځ زون په مرکزونو کې د افغانستان په اړه مبصرينو سره مختصرو خبرو اترو ته اړتيا ده ترڅو دا واوري چې "په افغانستان کې د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې پاليسي د ناکاميدو په حال کې ده." په نړيواله کچه، هغه مقياس يا معيار چې ددغې ارزونې د استدلال په موخه کارول کېږي، د کوکنارو د کر ساحه ده. د اجرأتو د لمړي او ساده واحد په کارولو سره، سړی دی نتيجې ته رسېږي چې په افغانستان کې د نشه يي توکو پروړاندې پاليسي د ناکامېدو په حال کې ده. په کال ۲۰۰۱ کې، طالبانو تحميلي بنديز چې اکثراً په غير قانوني نشه يي توکو باندی يې ولګاوه يو تر ټولو بريالی بنديز د افغانستان په تاريخ کې بلل کېږي، د کوم په ترڅکې چې د کوکنارو کر په کابو ۸۰۰۰ هکتارو ودريد.[۴] خو د طالبانو له پرزيدو څخه وروسته، سمدلاسه د کر کچه بيرته د کال ۲۰۰۱-۲۰۰۲ د کر په موسم کې

[۴] پخوا، د کوکنارو په کر کې ترټولو زيات کمښت په ۱۹۸۷م کال کې په ميانمر کې رامنځته شو، چيرته چې ۱۲۲۷۹ هکتاره هغه ځمکه چې په کوکنارو کرل شوی وه، د دوا شيندلو له لاری له هوا څخه د اتلوتکې پوسيله شاړه کړای شوه. په وروسته کال کې، د کوکنارو د کر په اړه د متحده ايالاتو معلوماتو له ۹۲۳۰۰ هکتارو څخه ۱۱۲۷۰۰ هکتارو ته زياتوالی وښود. د متحده ايالاتو د نشه يي توکو او د قانون د تعميل چارو نړيوالی اداری ته مراجعه وکړئ، د ۱۹۸۸ کال د نشه يي توکو د کنترول نړيوالی ستراتيژۍ رپوټ، (واشنګټن، ډي سي: د متحده ايالاتو د حکومت د مطبعې دفتر، د ۱۹۸۸م کال د مارچ مياشت).

۷۴۰۰۰ هکتارو ته او چته شوه او د نشه يي توکو او جرمونو په وړاندې د ملګرو ملتونو د سازمان د رپوټ سره سم تر ۲۰۰۴ کال پورې يې د افغانستان په ۳۲ ولايتونو کې کابو ۱۳۱۰۰۰ هکتارو ته زياتوالی وموند.[۵] د کوکنارو کر نور هم زيات شو، او تر ۲۰۰۷ کاله پورې، د کر کچه ۱۹۳۰۰۰ هکتارو ته چې يو ريکارډ بلل کېده ورسيده (که څه هم چې کوکنار په لږ شمېر ولايتونو او ولسواليو کې کرل شوي وو). د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو دفتر د ۲۰۰۷ کال په مقايسه په ۲۰۰۸ کال کې د کر کچه ټيټه تخمين کړې ده (۱۵۷۰۰۰ هکتاره)، خو په هر صورت کرل شوی سيمې د طالبانو له نسکوريدو راپديخوا د تېرو ۷ کلونو په اوږدو کې کابو ۲۰ چنده زيات شوی دی او ددغو اټکلي معيارونو په پامکې نيولو سره، د ټولو پرله پسې هلوځلو اټکل او قضاوت دوام لري.

د طالبانو د بنديز په توضيح کولو سره او په افغانستان د برياليتوب په خير د وروستيو مخنيونو په پام کې نيولو سره دا انديښنه رابرخيره شوی ده چې د کوکنارو په کر کې ډراماتيک/حيرانوونکی کمښت يو تکراري ازموينه ده او بايد دی موضوع ته د پاملرنې څخه پرته چې په د کليوالو خلکو په ښيګڼې او ټيکاو باندی به اغيزې ولري، تطبيق شي. د بيلګې په ډول، په ۲۰۰۷ کال کې د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداری "د افغانستان د نورو ولايتونو څخه وغوښتل چې د [بلخ ولايت] نمونې تعقيب کړي" دغه ولايت (بلخ) د هغه کال به بهير کې د کوکنارو د کر له منځته تلل په اثبات رسولی ؤ. نوموړي اداری په ځانګړې توګه د ننګرهار او بدخشان له ولايتونو څخه په ټينګه وغوښتل چې د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو د کر موسم لپاره "د کوکنارو د کر کچه سفر درجې ته ورسوي".[۶]

د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د هڅو د برياليتوب او ناکامۍ په اندازه کولو کې بالاخره د هکتار واحد نتيجه ورکړه. د کوکنارو د کر په کچه کې دغه برياليتوب او ناکامي د کلني




بدلونونو سره سم د هر ورکړل شوي کال لپاره څرګندېږي. د کوکنارو د کچې اندازه کول پدې مانا ندی چې ولې په هغو سيمو کې چې کوکنار پکې کرل شوي زياتوالی يا کموالی رامنځته کېږي، يا دغه بدلونونه به په راتلونکي کال کې په خپل حال پاتې شي. دغه پانه د اندازه کولو د غوره معيار په خير د هغو سيمو د کارولو کمزوتيا ښکاره کوي چې د کوکنارو د کر لپاره په پام کې نيول شوي دي، د کوم په وسيله (د اندازه کولو غوره معيار) چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د هڅو د برياليتوب يا ناکامۍ په اړه قضاوت کېږي ترڅو د کوکنارو

[۵] د متحده ايالاتو حکومت په افغانستان کې د کوکنارو د کر اټکل هم چمتو کوي. په دغه رپوټ کې ذکر شوي احصايوي ارقام د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو د اداری ارقام دي.

[۶] د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۷م کال،"

توليد کنترول او د نورو لارو چارو د ميتودونو وړانديز وشي د کوم پوسيله چې اجرأت اندازه کېداى شي. دغه پاڼه په دريو برخو ويشل شوى ده.

لومړى برخه يې په کال ۲۰۰۱ کې د کوکنارو په کر باندى د طالبانو د بنديز او همدارنګه په ننګرهار کې په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ کلونو او د بلخ په ولايت کې په ۲۰۰۷ کال کې د وروستيو بنديزونو پروسې او اغيزو ته کتنه کوي. دويمه برخه يې په ژورى ساحوي څېړنې باندى چې د کوکنارو په کر کې دغه چټکه پرېوتنه چې د اجبار او د پرمختيايي مرستو د غلطو ژمنو له لارى بريالى شوى ده، اتکا کوي. دغو مسألو په خاصه توګه د کوکنارو د کر ترشا پراته اصلي عوامل تقويه کړي او د بېوزلۍ، ناامنۍ او په پرلپسى کلونو کې د کوکنارو بيا کر ته لار هواره کړې. دغه څېړنه توصيه کوي چې د کوکنارو په کر کې د پامور کموالي رامنځته کول چې د يو واحد موسم په بهير کې په پراخه جغرافيايي ساحه تعميلېږي، سمدلاسه ورته بريالیتوب نه شي ويل کېداى؛ بلکه، دغه تحميلي کمښت ډېرى مهال کېداى شي چې د اړين امنيت، اقتصادي او سياسي حالاتو په رامنځته کولو په موخه کوم چې د کوکنارو د کر د اصلي عواملو د ځرګندولو لپاره ضروري دي، بې ګټې ثابت شي. دا هغه موضوع ده چې د بريتانيې د نړيوال پرمختګ کميټې لخوا په ګوته شوى ده.[۷] خو دا هغه موضوع هم ده چې په رسنيو کې د ډېرو خلکو لخوا او د پاليسى د يو شمېر تسويدوونکو لخوا له نظره غورځېږي، دا دوه ډلى ښايي د بېړنيو پايلو د ښودلو په لټه کې واوسي.[۸]

د پاڼې دوهمه برخه د هيواد په شمالي او مرکزي سيمو کې په مستقيم ډول د کوکنارو د کر په کچه کې د اړوند کموالي په اړه مغشوشتيا سپړي— يعنى د "کوکنارو څخه د پاک ولايتونو" منشأ—او په سهيلي زون کې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزو کې زياتوالى. دغه برخه بحث او استدلال کوي چې نور عوامل د ظاهريدو په حالکې دى او د کوکنارو په کر کې دغه بدلونونه د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د هڅو د برياليتوب يا ناکامۍ د توضيح په برخه کې پاتى راغي څو هغه حقيقتونه منعکس کړي چې په سيمه کې رابرڅيره کېږي يا د دغې موضوع واضح درک په ډاګه کړي چې د نشه يي توکو پر وړاندې په رېښتنې توګه هغه پروګرامونه چې تمه ترى کېږي په منطقي ډول تطبيقېږي که نه.

دريمه برخه وړانديز کوي چې (د سياسى فشار او د هکتار واحد په اساس د اټکليدونکو پايلو د درک شوى مناسب وخت سره سره ) ددى موضوع په هکله د پوهى د زياتولو چټکه اړتيا ليدل کېږي چې کاميابي په حقيقت څنګه بريښي او څه ته اړتيا ده تر څو دغه پوهى ته پراختيا ورکړل شي. دا يوه اندازه مغشوشتيا او نه پرځاى شوى هيلى چې او سمهال د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په توګه توضيح کېږي، په ښنبه کوي. دا موضوع په طبعي شکل د اندازه کولو د معيارونو د سټ د طرحى اهميت په ګوته کوي چې په امنيت، اقتصادي ودى او حکومتدارۍ کې پرمختګ منعکسوي او د کوکنارو په کر کې د دوامداره کمښت د رامنځته کولو لپاره اړين دي. د معيشت د تأمين په ارتباط د پايلو د ارزولو لپاره د امکان وړ معيارونه دلته په پام کې نيول کېږي.

بالاخره، دغه پاڼه استدلال کوي چې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې بايد د دولت جوړونې او اقتصادي پرمختګ په پراخه پروسه کې يوځاى شي، او نبايد د يوى موازى پاليسۍ يا د فعاليت د يوى لړۍ په څېر وګڼل شي. په پاى کې، ددى موضوع په تاييدولو سره او د نشه يي توکو په مبارزه کې د پرمختګ په موخه د تحول او د بدلون د نخښى په حيث د هکتار واحد له

[۷] "مونږ پدى باور يو چې هغه توقوعات بى ځايه دي چې د کوکنارو کر به د يوى لنډى مودى په بهير کې کمښت ومومي. د کورني عوايدو د لاسته راوړلو په موخه د کوکنارو په کر باندى د ژورى اتکا په پامکې نيولو سره، هر راز تحميلي کمښت به د پامور ټولنيز، سياسي او اقتصادي پايلى ولري." "د افغانستان بيارغول،"-۲۰۰۸ ۲۰۰۷ کلونو د غونډى څلورم رپوټ، ۱، ۴۸.

[۸] "د کوکنارو بشپړه سروى ښيي چې د کوکنارو کر د افغانستان په شمالي او ختيځو ولايتون کې د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې برياليو هڅو ته د اټکل شوى منني ويلو په نسبت ډير کم شوى." (سرچينه: د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، د افغانستان د کوکنارو د کر سروى، ۲۰۰۷م کال، ۴.)

کارولو څخه وتل به د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د موثرې ستراتيژۍ په تطبيقولو کې مرسته وکړي؛ دغه ستراتيژي بايد د هغو حقيقتونو څخه چې په ساحه کې موجود دي، ډېر له نږدې نه خبره او سي همدارنګه د فشار په وړاندې لږه زيانمنونکې او سي ترڅو د کر په کچه کې لنډمهال بدلونونو ته ځواب ووايي.

## II. د طالبانو د بنديز ناکامېدل او د هغې ځای نيونکي؟

اوس په افغانستان کې د کوکنارو د کر په کچه کې يو شمېر نوې چټکې پرېوتنې موجودې دي، چې يو يې هم دوامداره په اثبات نده رسيدلې، هريوه چټکه پريوتنه اوس هم په خپل وار سره د بريا په بڼه څرګندېږي. تر ټولو د پاموړ يې د طالبانو بنديز ؤ چې د ۲۰۰۰ کال د جولای د مياشت په ۲۷ نېټه د يو فرمان په صادرلو سره عملي شو. د دغه فرمان له لارې په افغانستان کې د کوکنارو د کر بشپړه بندونه وغوښتل شوه. د ۲۰۰۱ کال د اګست په مياشت کې، د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداری رپوټ ورکړ چې د کوکنارو کر په افغانستان کې د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ کلونو ترمنځ موده کې په مجموعي ډول له ۸۲۰۰۰ هکتارو څخه يوازې ۸۰۰۰ هکتارو ته ټيټ شوی ؤ، او د طالبانو تر ولکې لاندې سيمو کې- له **۷۸۸۸۵**هکتارو څخه يوازې ۱۲۲۰ هکتارو ته پرېوتی ؤ. په هغه وخت کې دغه کمښت د ملګرو ملتونو د چارواکو لخوا "يو تر ټولو فوق العاده او د پاموړ بريالیتوب " بلل کېده[9] او تر هغې وروسته د يو اټکلي معيار په توګه کارول کېده ترڅو د نشه يي توکو د پرلپسې هڅو په اړه پريکړه او قضاوت وکړي.

د طالبانو د نسکوريدو څخه راپديخوا د کوکنارو په کر کې د پاموړ کمښت راغلی دی—که څه هم چې د کوکنارو کر په مشخصو ولايتونو کې منع شوی ؤ—چې دا هم د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې برياليتوب ته منسوب شوی دی. تر ټولو او ځاری قضيې پدی ډول دي: د ننګرهار په ولايت کې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ ترمنځ کلونو کې د کوکنارو د کر په کچه کې **۹۲** په سلو کې کمښت (له ۲۸۰۰۰ هکتارو څخه ۱۱۰۰ هکتارو ته)؛ د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ ترمنځ کلونو په بهير کې د بلخ په ولايت کې د کوکنارو د کر په کچه کې د پاموړ او حيرانوونکی کمښت چې له ۷۲۳۳ هکتارو څخه سفر ته ټيټوالی وموند، د کوکنارو دغه ټيټه کچه د دوهم کال لپاره پاتې شوه؛ او په ۲۰۰۸ کال کې د ننګرهار په ولايت کې د کوکنارو د کر کابو بشپړه له منځه تلنه چې په ۲۰۰۷ کال کې د کوکنارو د بيا کر پسې رابرڅيره شو.

د يوی ستري جغرافيايي ساحې د احاطه کولو سره سره، په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو بنديزونه— په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ کلونو کې د ننګرهار په ولايت او په ۲۰۰۷ کال کې د بلخ په ولايت کې د تحميلي بنديزونو سره زياته ورته بڼه لري. دغه برخه د کوکنارو په کر باندې د دغو بېلابېلو بنديزونو د تطبيقولو مقاصد او انګيزې (لامل) سره مقايسه کوي. همدارنګه دغه برخه په کليواله معيشتونو، پراخ سياسي اقتصاد او امنيتي حالت او په همدې ترتيب په پرله پسې موسم کې د کوکنارو دکر په کچه باندې، د راتلونکې اغيزې اټکل کوي. دغه اټکل بالاخره هغه فرضيات چې ګواکې د کوکنارو د کر په کچه کې دغه راز حيرانوونکی کموالی په حقيقت کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزو برياليتوبونه دي ننګوي، چې بايد مکرراً و ازمايل شي.

### د کوکنارو په کر باندې بنديزونه: موخې او انګيزې

د نشه يي توکو د کنټرول په اړوند دطالبانو بنديز يو داسې برياليتوب په څير چې انکار ترې نشي کېدای، ستايل شوی

[9] په مارتين جلسما کې يې نقل قول شوی، "د طالبانو له بنديز څخه عبرت: د ، ټول ګلان څه شول؟ پروړاندې غبرګون، په افغانستان کې د کوکنارو د کر پر خلاف د طالبانو سخت دريځ، د ګراهم فيرل او جان تورنی ليکنه،" د نشه يي توکو په هکله نړيوال ژورنال، (د **۲۰۰۵**م کال مارچ)

دی.[10] په حقيقت کې، ځينې هغه خلک چې د طالبانو پر وړاندې د هغوی د حکومت په بهير کې نيو کې کولې، داسې ښکاري چې اوس د دې موضوع په بيانولو سره د هغوی له رژيم څخه دفاع کوي چې: د هغوی د حکومت او قانون لاندې د کوکنارو په کر کې حيرانوونکې کمښت کاميابه شو، پداسې حال کې چې د طالبانو د رژيم له نسکوريدو وروسته د کوکنارو کر په پرله پسې لوړې کچې ته حرکت وکړ. پدغه تحريري رپوټ کې قطعي موضوع د ۲۰۰۱ کال څخه وروسته د کوکنارو د کر د کچې په کنترول کې د حکومت په تېره بيا د امريکې د متحده ايالاتونو او بريتانيې د حکومتونو د ناکاميدو په اړه انتقادي نظر دی.

د هغه ادعاوو پر خلاف چې طالبان د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د پاليسۍ په پلې کولو کې بريالي وو، د افغانستان په ګډون د ښېلابېلو حکومتونو چارواکو اکثراً د طالبانو د پاليسۍ د تطبيقولو په انګيزو (اصلي عواملو) باندې تاکيد کاوه. دوی په خاصه توګه توصيه کوي چې د طالبانو د بنديز لپاره اساسي علت د پټي په سر د کوکنارو نرخ لوړول او د هر راز جنسونو ارزښت زياتول وو چې د طالبانو د لوړ پوړو چارواکو يا د هغوی د ملاتړکوونکو لخوا اداره کېده. ددغه ډول اتهاماتو ترشا شواهد (او دا چې ايا دا په حقيقت کې د طالبانو د کاميابه بنديز لومړنۍ انګيزه وه يا د اصلي عواملو سربېره نوری اضافي انګيزې) له وضاحت څخه ليری دي. دا احتمال لري چې د ۲۰۰۱ کال د بنديز دليلونه په هغه وخت کې د طالبانو په منځکې د ښېلابېلو ګوندونو په څير متعدد او متفاوت و اوسي.[11]

د کوکنارو په کر کې د هغه کمښت ترشا چې د طالبانو له بنديز سره يوځای ؤ، د دوامداره ځارنې، مذاکرې يا خبرو اترو او اجبار يوه پيچلې سياسي پروسه وه چې د سيمه ييزو شرايطو او د ښکيلو قومونو د سياسي نفوذ لخوا تعينيده. په هغه وخت کې د طالبانو لړزيدونکې محبوبيت او د معاملاتو موزون (انعطاف منونکی) حالت چې د مشخصو قومونو سره يې برقرار کړې ؤ، يوازې دا څرګندوي چې د طالبانو بنديز په کومه اندازه نازک او زيانمنونکی ؤ چې ددغه بنديز د ثبات او دوام په اړه او همدارنګه د هغه رول په اړه چې ياد شوي بنديز د طالبانو د رژيم په وروستي نابېره پرزيدو کې ولوبوه، يو لړ پوښتنې راپورته کوي.

دا بايد له پامه ونه غورځول شي چې، کټ مټ لکه څنګه چې دوی يې اوس کوي، د ۱۹۹۰مې لسيزې په وروستيو کې طالبانو د سيمه ييزو زمامدارانو يو ائتلاف وړاندې کاوه چې په پراخه کچه د نظريو د موافقو له مخې اداره کېده.[12] هغوی په زياته اندازه ولايتونه او ولسوالۍ د سيمه ييزو زمامدارانو سره د مذاکراتو له لارې ترلاسه کړې وې او خپل حکومت يې په همدې ترتيب پرمخ بيوه. په ځينو وختونو کې د احکامو صادرول او يا هم په استثنائي حالاتو کې د محلي شرايطو او کلتور سره سم په ثابت شکل نافذيدل چې اکثراً د پاليسو په تفسير او نتيجوی تطبيق کې د پامور مصلحت غوښتنې ته لار هواروله په هغه سيمو کې چې پښتانه اوسيږي، په محلي کچه جرګه—يعنی د پريکړې کولو عنعنوي ارګان—اوس هم خلکو ته اړوند د روانو موضوعګانو په اړه په پريکړه کولو کې د خپلواکۍ له لوړې درجې څخه برخمنه ده (جرګه).

[10] په هغه وخت کې د افغانستان او پاکستان لپاره د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو د اداری استازی برنارد فراهی، د کوکنارو دغه بنديز ته "يو تر ټولو د پامور بريالیتوب" په څير اشاره وکړه. په جلسما کې نقل قول شوی، "د طالبانو له بنديز څخه عبرت،"

[11] "سره لدی چې د طالبانو مرکزي حکومت....ممکن د نړيوالو سازمانو د مقاصدو او اساساتو په وړاندې خنډ اچوونکی ؤ، خو بيا هم د هغوی تحريک د ډير شمېر نفوذ لرونکو طبقاتو څخه تشکيل شوی ؤ، چې ټول يې په عين شکل استازيتوب نه کاوه. مذهبي چارواکي د کابل، هرات، کندهار او جلال آباد په ښاري سيمو کې د کليواله سيمو په پرتله په خپلو ويناوو کې د طالبانو د بدنامی ايدیالوژۍ پروړاندې سخت دريځه دي. لدی امله ډيرو سازمانونو دا موضوع درک کړې چې هغه پروژې لکه د نجونو لپاره په کورونو کې د ښوونځيو جوړول يا د ښځو لپاره روغتيايي لارښوونې چې ښايي هڅ وخت به يې اند په ښاري سيمو کې د پيل اجازه نه درلوده، اوس په بشپړه توګه په کليواله سيمو کې د امکان وړ دي." سرچينه: ايدوارډ او جونيټن والټر، *افغانستان: د بشري او بحراني زونونو لپاره ګټور ساحوي لارښوونې*، (جنيوا، ۲۰۰۸م کال)، "په ډيرو ولايتي سيمو کې د مرکزي حکومت کنترول نافذ ؤ او اوس هم په عين شکل تعميليږي؛ پاليسۍ واضح ندي؛ او د ولايتي چارواکو په منځکې انفرادي تګلاری د شخصي نظريو پراخه لړۍ منعکسوي."تانسي دوپری، "افغانی ښځې د طالبانو په رژيم کې، په *Fundamentalism Reborn?*"

[12] د جان بټ سره وګورئ، "د طالبانو پديده"

علاوه پر دی، په هغه وخت کې د طالبانو د قانون پر وړاندې ډېره کرکه او مخالفت موجود ؤ، حتی په هغه سیمو کې چې پښتانه پکې اوسیږي.[13] د پخواني رژیم په څیر، هغوی (طالبانو) خلک اجباري خدمت ته اړ ایستل، چې دی کار په زیاتېدونکې توګه د هغوی شهرت کم کړ. سره لدی چې طالبانو په فزیکي امنیت کې ښه والی رامنځته کړی ؤ، خو د اقتصادي ثبات په راوستلو کې هغوی پاتی راتلل، د خلکو په منځکې یې نا امیدی ته وده ورکړه. د رشوت او فساد کچه پراخه شوی وه او د هغوی د حاکمیت تر ولکې لاندی یو شمېر وسله والو یاغیانو شتون درلود، تر دی حده چې یاد شوي یاغیان په هغو ولسوالیو کې چې د طالبانو د مرکزي قلمرو په څیر ګڼل کېده لکه د کندهار د ارغنداب په ولسوالۍ او په هلمند کې د کجکي په ولسوالۍ کې، هم شتون درلود.[14]

د کوکنارو د کر د بندیز په اړه چې د ۲۰۰۰م کال د جولای په میاشت کې اعلان او نافذ شو، د بندیز پرمهال یا د تطبیق په بهیر کې لږ اختلاف موجود ؤ. د بندیز څخه وروسته د بزګرانو په متقاعدولو او مجبورولو ټینګار کېده ترڅو په لومړي سرکې کوکنار ونکري. دا پړاو په لوړه کچه د طالبانو په مشرۍ، په هیواد کې د بزګرانو او د پرمختیایي سازمانونو د ډېرو فعالینو لخوا په لاره اچول شوی ؤ چې ښایي نړیوالی پرمختیایي مرستې د دغه بندیز د کامیابه تطبیق پسی رامنځته شي، په خاصه توګه په هغو سیمو کې چې د رواني وچکالۍ او بحران په ځواب کې څه ناڅه مرستې د مخه شوی وی.[15]

د کوکنارو د بندیز د پلی کولو دنده په هرې ولسوالۍ کې د پلی کوونکو او امنیتي قومندانانو پغاړه وه. دغه تګلاره بریالۍ ثابته شوه. د تطبیق نتیجه د کوکنارو ریښی ایستنې او د کوکنارو د نابودولو په اړه رپوټونو ته محدوده وه. په دغو رپوټونو کې خبر ورکول کېده چې څه نا څه ۲۳۰ هکتار ځمکه چې کوکنار پکې کرل شوي وو له منځه یوړل شوه او په ټول هیواد کې ۳۵۰ تنه د کوکنارو د کرلو په جرم ونیول شول.[16] دغه غبرګون په ډېره اندازه د ننګرهار په ولایت کې تر سره شو، چیرته چې د کوکنارو د نه کر پر وړاندې خورا ډېر مقاومت وجود درلود. د ننګرهار په ولایت کې، د شینوارو قوم داسی ښکاره کېده چې د طالبانو د کامیابه تطبیق پر وړاندې اساسي خنډ وي.[17] د شینوارو قوم سربېره پردی چې ستر او قدرتمند دی، ددی قوم غړي په لاندی پرتو سیمو کې هم اوسیږي کوم چې باید د کوکنارو کر په لومړي سرکې پېل کړي. د هغوی متقاعدول چې کوکنارو ونکري، د یو مهم ثبوت په څیر کار ورکړ ترڅو نور قومونه په ټول ولایت کې د کوکنارو له کر څخه منصرف کړي. په هغه وخت کې، د شینوارو قومي مشرانو ته د کوکنارو د کر د بندیز سره د هوکړې او تحمیلي بندیز د ډاډمنولو په موخه د پیسو د ورکړې په اړه رپوټونه وړاندې کېدل.[18]

سره د دی ټولو بیاهم، له بندیز سره د علني هوکړې او موافقت سره سره، په ۲۰۰۱م کال کې د شینوارو قبیلو ترمنځ مخالفت څرګند شو. د اچین په ولسوالۍ کې په وسایلو مجهز لاریونونو چارواکو ته وښودل چې، بې له شکه هرڅوک د کوکنارو د بندیز ملاتړ نه کوي. ډېرو بزګرانو او انفرادي اشخاصو چې د شینوارو په ولسوالۍ کې یې د چارواکو په حیث دنده پرمخ بیوله، دا موضوع په ډاګه کړه چې، په هغه صورت کې چې پرمختیایي مرستې چمتو نشي، نو د دوهم پرله پسی کال له بندیز سره د هغوی موافقت احتمالي بریښېده. ګاونډي قومونو، په خاصه توګه د خوګیاڼیو او د شینوارو په ولسوالیو کې د کوکنارو د بندیز په برخه کې د طالبانو د یو اړخیزې پلوۍ په اړه او

[13] د احمد رشید سره وګورئ، "افغانستان: یو کال په ازمايښت کې" in *Eurasia Insight*، د ۲۰۰۱م کال د جنورۍ ۲۲مه نېټه.

[14] د طالبانو د بندیز د ساحوي کار په بهیر کې، د طالبانو یو قومندان د اچین ولسوالۍ د پاچا ولی په دره کې ووژل شو او طالبانو د ټیم غړو ته سلا ورکړه چې هغې سیمې ته ولاړ نشي. "په افغانستان کې د کوکنارو په کرباندی د طالبانو د بندیز اغېزه،" د ۲۰۰۱ کال د می د میاشت ۲۵مه نېټه (افغانستان ته د بسپنه ورکوونکو استازو ډلو لپاره اسناد چمتو شول، ۲۰۰۱ کال، د اپریل د ۲۳مې نېټې څخه تر د می ۴مې نیټې پورې)

[15] د بسپنه ورکوونکي استازي، د ۲۰۰۱ کال د می میاشت.

[16] "په افغانستان کې د کوکنارو په کرباندی د طالبانو د بندیز اغېزه،"

[17] دیوید مینسفیلد، "د کوکنارو د کر ځای نیونه: په سیمه ایز تهدید کې بدلون؟"

[18] د بسپنه ورکوونکي استازي، د ۲۰۰۱ کال د می میاشت.

همدارنګه په ټول ولايت کې د بنديز د نافذولو په موخه د اړين سياسي ملاتړ د حاصلولو پر وړاندې خپله ناخوښي څرګنده کړه.

په جنوبي ولايتونو لکه هلمند او کندهار کې، خلکو په زياته اندازه د کوکنارو د کر بنديز ومنه. د ناد علي د قومي مشرانو د استازي هيأت په اړه رپوټونه موجود وو چې ملا عمر سره يې کاتل ترڅو د کوکنارو د بنديز په هکله خپل قانع کوونکی دليل وړاندې کړي، خو دغو هلوځلو کومه نتيجه ورنکړه. په هر حال، ساحوي کار چې معمولاً د کوکنارو د حاصل ټولولو د موسم په بهير کې په لاره اچول شوی وو، د هغو چارواکو پرضد د خلکو څرګنده کرکه او خوابدي په ډاګه کوله چې د کوکنارو د کر په سر يې بنديز نافذ کړی ؤ. په ضمني ډول، تهديد يوه عامه موضوع وه.

د نشه يي توکو د کنترول پر وړاندې وروستۍ هڅې، د بلخ او ننګرهار په ولايتونو کې د طالبانو د بنديز تقليد کوي چې په ۲۰۰۱م کال کې تطبيق شوی ؤ. دغه هڅې د کر د موسم څخه د مخه په بشپړه توګه ترسره شوی، ترڅو د کر مخه له پېليدو څخه د وړاندې نه ونيسي. په خاصه توګه، ددغو وروستيو بنديزونو د تطبيق لپاره مسؤليت هم له ولايتي چارواکو څخه د اساسي مسؤليتونو سره چې د کوکنارو د ټيټې کچې په موخه د ولسوالۍ چارواکو ته سپارل کېده، لاندې کچې ته اړول شوی دی. د بلخ په ولايت کې، دغه مسأله داسې څرګندېږي چې لار ښوونې د کوکنارو د کر د درولو په موخه د واليانو لخوا وړاندې کېدې او دغو لارښوونو د اجبار او متقاعدولو بسياکوونکې تعميل اغيزمنوه.[19] د ننګرهار په ولايت کې، قومي جوړښتونه او استازي نه يوازې دا چې د نشه يي توکو پر وړاندې د پيغامونو د رسولو لپاره کارول کېده، بلکه همدارنګه بزګرانو ته د "غبرګون د پايلې" په توګه هم کارول کېده. قومي ملکان او خانان جلب او قانع کېدل ترڅو کوکنار ونکري؛ په همدې ترتيب دغه ملکان او خانان اړ وو ترڅو خپل قومي غړي اړباسي او متقاعد يې کړي چې له هغوی څخه ملاتړ وکړي. پداسې حالکې چې ولايتي چارواکو اکثراً د هغو سيمو لپاره د پرمختيايي مرستو د برابرولو ژمنې کولې چېرته چې قومي مشران ددغه دندې پغاړه اخستلو ته راضي وو، خلکو په ټولنه کې ادعاوې کولې چې ملکانو او خانانو ته نيغ په نيغه نغدي پيسې ورکړل شوې دي.

په دغه کمپاينونو کې د کوکنارو ريښه ايستنه، د طالبانو د بنديز په څېر، د هکتار واحد ته محدود او په زياته اندازه هغو سيمو ته منحصر وو چېرته چې چارواکي اړ وو چې د کر د موسم په پېل کې خپل نفوذ او قدرت وښيي ترڅو نوری ولسوالۍ د کر په وړاندې خپل ملاتړ څرګند کړي. په ننګرهار کې، دا په خاصه توګه د خوګيانيو او اچين ولسوالۍ دي، چېرته چې د کوکنارو کر د بنديز پروړاندې مقاومت کېږي او ريښه ايستنه په سختۍ سره ترسره کېدای شي. د هغه کسانو توقيف ډېری مهال تر سره کېده، خو بزګران په ځانګړې‌توګه د يوې لنډې مودې لپاره نيول کېده، او تر هغه وخت پورې به د توقيف لاندې وو چې خپلو ځمکو ته ګرځېدل او خپل د کوکنارو د بوټو ويجاړول ومني. دا تګلاره لا اوس هم د ارزښت وړ د غبرګون د يوې مثبتې پايلې په څېر ثابته شوې چې په کال ۲۰۰۱ کې د طالبانو پوسيله کارول کېده.

د کوکنارو د کر د بنديزونو د جغرافيايي پوښښ سربېره، ددغو کمپاينونو ترمنځ د توپير په ډاګه کول، په ۲۰۰۸ کال کې د ننګرهار په ولايت کې دوهمه مقايسه ده. پدغه وخت کې، ولايتي چارواکو په ادعايي شکل کوښښ کاوه ترڅو د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې کمپاينونه د هغو هڅو سره تلقين کړي چې د حکومت ضد عناصرو د فعاليتونو څخه مخنيوی کوي، په ځانګړې‌توګه د اچين او خوګيانيو په ولسواليو کې چې د پاکستان سرحد ته نږدې دي.[20] پداسې حالکې چې خلک ډېر وختونه بهرنيان د هغه اقداماتو لپاره چې د کوکنارو د کر د کمولو په موخه په لاره اچول کېږي، ملامت ګڼي، د ننګرهار د

---

[19] ادم پين، "د اوبو مديريت، کورني څاروي او د ترياکو اقتصاد: د بلخ په ولايت کې د کوکنارو د کر پراختيا" (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۷م کال)

[20] ديويد مينسفيلد، "د خطر او بې ثباتۍ پروړاندې غبرګون."

ولایت په اړه یو شمېر رپوټونه موجود وو چې په ننګرهار کې ولایتي چارواکو په غیر مستقیم ډول دې موضوع ته اشاره کړې وه چې د اړتیا په صورت کې هغوی به د ۲۰۰۷ کال د کر په موسم کې د بهرنیو نظامي ځواکونو د عملیاتو پر وړاندې خپل غبرګون ښکاره کړي.[21] په ۲۰۰۸م کال کې، د کورنیو په استوګن ځایونو باندې یرغل د تریاکو په ضبط او د تورنو کسانو په نیونه کې نتیجه ورکړه. دغه یرغل او همدارنګه هغه ادعاوې چې د متحده ایالاتونو ځواکونه د نشه یي توکو پر وړاندې د پیغامونو په استولو کې په نیغه توګه لاس درلود، حالات داسې منعکسول چې د محلي خلکو په منځکې هغه درک او پوهې ته ریښتنی بڼه ورکړي چې ګواکې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزو بنسټیزه موخه د ننګرهار ولایت په غوره ولسوالیو کې د متحده ایالاتو د نظامي ځواکونو زیاتیدونکی حضور وي.[22]



بالاخره، د هر کمپاین سره، اجبار یوه اساسي وسیله ده چې د کوکنارو د کر د حیرانوونکي کمښت په تطبیقولو کې کارول کېږي. دا ډول چټک کمښت د طالبانو د بندیز په بهیر کې او، په پرلپسې توګه، د بلخ او ننګرهار ولایتونو په ډېرو سیمه ییزو مخنیویو کې لیدل شوی. که څه هم چې، پرمختیایي مرستو ددغو بندیزونو په پلي کولو کې څه نا څه رول لوبولی، خو بیاهم پرمختیایي مرستو په خاصه توګه د خلکو په هوساینه کې اړین ښه والی ندی رامنځته کړی چې د کوکنارو له کر څخه د وتو یا انحراف سره لازمه مرسته وکړي. بلکه برعکس، د مرستې ژمنه په زیاته اندازه د تحمیلي فشار په څیر کارول شوې ده د کوم په وسیله چې په کر کې د کموالی په اړه د محلي چارواکو سره مذاکره وشي او ځینې زیانونه جبران شي چې د چارواکو د تحمیلي بندیز په پای کې د کوکنارو په کر کې د پاموړ کموالي له امله رامنځته شوي. دغه تګلاره نه یوازې دا چې د افغانستان د نشه یي توکو د کنټرول د ستراتیژۍ په خلاف عمل کوي، بلکه همدارنګه په دغو سیمو کې یې د ډېرو کلیوالو خلکو هوساینه او په همدې ترتیب د هغه ځمکې په کمیت کې دوامداره کمښت چې په کوکنارو کرل شوی، په ژوره توګه متأثره کړی.

## د بندیزونو اغېزې

د طالبانو د تحمیلي بندیز، په کلیواله معیشتونو او پراخ اقتصاد باندې د هغه د اغېزې ترشا پراته مقاصد او انګیزو ته د پاملرنې څخه پرته د یادو شویو مسایلو د کامیابۍ په خبرو اترو کې اکثراً ذکر شوي عوامل له یاده وځي، څرنګه چې دا هغه عوامل په ډاګه کوي چې په پرله پسې توګه د طالبانو د پرزیدو په تعقیب یې د کوکنارو د چټک زیاتوالي لپاره زمینه مساعده کړه. د طالبانو بندیز نه یوازې دا چې د پټې په سر نرخ یې جګ کړ (د ۲۰۰۰م کال د سپتمبر او د ۲۰۰۱م کال د جولای ترمنځ میاشتو کې یې له شاوخوا ۱۰۰ امریکایي ډالرو څخه ۵۰۰ امریکایي ډالرو ته زیاتوالی وموند)، بلکه همدارنګه یې تریاکو ته منسوب د پور او د پور اخستلو د شرایطو په کچه کې د چټک لوړتیا لامل وګرځید. د بندیز سره مخامخ بزګران پدې قادر نه وو ترڅو هغه پیسې یې چې د کوکنارو د کرلو لپاره د پیشکي/بیانې په څیر

[21] دیوید مینسفیلد، "د خطر او بې ثباتۍ په وړاندې غبرګون: د ۲۰۰۷م او ۲۰۰۸م کلونو د کر کیلی د موسم په بهیر کې د هغو کورنیو د کلیواله معیشت په حالت کې د بدلون تشخیص چې کوکنار کري" (د افغانستان د نشه یي توکو د ارزونې لپاره د برتانیې حکومت د ادارې لپاره رپوټ، ۲۰۰۸م کال د جولای میاشت).

[22] دیوید مینسفیلد، "د خطر او بې ثباتۍ پروړاندې غبرګون."

اخستی وی، بېرته تاديه کړي. سوداګرو دغه د کوکنارو اړوند پورونه په چټکۍ سره يو کيلو ګرام د رايج بازار نرخ ۵۰۰ نغدو امريکايي ډالرو ته لوړ کړ. د هغه بزګرانو لپاره چې د يو کيلوګرامترياکو په سر يې يوازې د ۵۰ امريکايي ډالرو پيشکي پيسو سره د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ کلونو د کر د موسم څخه د مخه هوکړه کړې وه، ياد شوی پور د فصل ټولولو پر مهال ۵۰۰ امريکايي ډالر/کيلوګرام ته او چت شو.

د هغو بزګرانو لپاره چې د ډېر زيات امبار شوي پور ګالل يې پغاړه درلوده، د کوکنارو د کر په موخه د ځمکې په تخصيص کې زياتوالی (د ۲۰۰۱ په مني کې) د پورونو د جبران لپاره د هغوی يوازينۍ وسيله وه.[۲۳] خو د هغه بزګرانو لپاره چې د کوکنارو د کر لپاره يې پور نه وو ترلاسه کړی، د ترياکو د بازار لوړ نرخ چې د بنديز په تعقيب رامنځته شو، ددې باعث شو چې د بنديز سره سره کوکنار وکري. د ترياکو دغه راز لوړ نرخونه ددې لامل وګرځيدل ترڅو د کوکنارو کر ان په هغو سيمو کې پيل شو چېرته چې د لږې ځمکې يا د کوکنارو لږ محصول او يا هم د کوکنارو د نه رواج له کبله کوکنار نه کرل کېدل، لکه په شمالي او مرکزي ولايتونو کې. د ۲۰۰۱ کال د وچکالۍ د پای په تعقيب، د پيتې په سر لوړ نرخونه او د کوکنارو اړوند پورونه د غنمو په پيداوارو کې د زياتوالي سره تړلي وو چې د خوړو بيه يې ټيټه او د دولتي ارګان حضوريې کم کړ کوم چې کولای يې شول په خلکو باندې خپله پرېکړه تعميل کړي. دا بايد د لږ تعجب وړ خبره او سي، چې د ۲۰۰۱م کال د نومبر په مياشت کې د طالبانو له پرزيدو څخه وروسته د افغانستان په ډېرو برخو کې د کوکنارو کر يو جذاب او په زړه پوری انتخاب ؤ.

د طالبانو بنديز اقتصادي حالت په زياته اندازه متأثره کړ چې په کليوالـه کچه د زياتېدونکې بيکارۍ لامل وګرځيد. د کارونو د نشتوالي له امله د ځوانانو ډېرو ډلو چې د ګرځنده بزګرانو په حيث يې کار کاوه، په يو داسې وخت کې کله چې د ننني ورځ په پرتله د مزدورۍ ډېر لږ فرصتونه موجود وو، بيکاره پاتې شول. پاکستان ته مهاجرت په سهيلي او ختيځو ولايتونو کې د بنديز د تحميل په وړاندې يو عام غبرګون وه. د کوکنارو په اړوند پورونو کې زياتوالی ددې لامل وګرځيد چې د لوړو پورونو د تاديې په موخه په هغه سيمو کې چې د بنديز څخه د مخه کوکنار کرل کېده، خلک خپلې ځمکې ګرو کړي او د لوړو پورونو د تاديې لپاره خپلې لورګانې تبادله کړي.[۲۴]

په هغه وخت کې هيڅ څوک پدې خبره مطمئن نه وو چې ايا طالبان به پدې وتوانېږي (يا په حقيقت کې ليوال وي[۲۵]) ترڅو د کوکنارو د کر ټيټه کچه د دوهم پرلپسې کال لپاره وساتي، د کوکنارو کر ته د مخ اړونې په اړه شديد فشارونه موجود وو. د طالبانو د حکومت په بهير کې، د طالبانو لوړ پوړو مشرانو په خلکو باندې د بنديز له اغيزې څخه خبر وو؛ هغوی پدې پوه وه چې د بنديز دوهم پرلپسی کال به ډېر سخت دريځ ته اړتيا ولري او د لازياتو ستونزو لامل به وګرځي. ملا محمد حسن اخند چې د کندهار والي او په پراخه کچه پېژندل شوی د طالبانو په رژيم کې يو تر ټولو قدرتمند او بانفوذه رهبر ؤ. نوموړي غوښتنه وکړه چې د کوکنارو بنديز به د دوهم کال لپاره هم تعقيب شي خو د بنديز تطبيقول به "د ډېرو خلکو مړينې ته اړتيا ولري او نور به له قحطۍ سره مخ شي."[۲۶] طالبانو د بنديز په موخه د مذاکراتو، ژمنو او اجبار له يو ترکيب څخه استفاده کوله ترڅو د ترياکو په توليد کې لنډمهاله بنديز رامنځته کړي. دغه بنديز بالاخره د کوکنارو په کر او نرخ کې د يو حيرانوونکي لوړوالي لپاره ټولنيز- اجتماعي شرايط منځته راوړل، نه يوازې په هغو سيمو کې چيرته چې کوکنار د څو کلونو لپاره د عايد اساسي منبع ګڼل شوی بلکه همدارنګه په هغو سيمو کې هم چيرته چې د

[۲۳] د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د کوکنارو کر په يوه بدلېدونکي چاپيريال کې."

[۲۴] د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د کوکنارو کر په يوه بدلېدونکي چاپيريال کې."

[۲۵] په ځانګړېتوګه، دا معلومه نده چې ايا طالبان د کوکنارو په کر باندې بنديز ته ليوال وو او که نور عوامل ددې لامل وګرځېده ترڅو طالبان دغه لار غوره کړي.

[۲۶] هغه دا هم وويل چې که چېری نړيواله ټولنه د افغانستان خلکو ته د بسياکوونکو مرستو په لېږلو کې پاتې راشي نو ددی مسؤليت به په نېغه توګه د نړيوالی ټولنې پغاړه وي. بسپنه ورکوونکي استازی ډله، د ۲۰۰۱م کال د مې مياشت.

کوکنارو د کر کچه تر ۲۰۰۱م کاله پورې ټیټه وه. لوړ پوړو چارواکو ممکن دا هیله درلوده چې دغه عمل ښايي د پرمختیايي مرستې په پراخ جریان کې نتیجه ورکړي. دا هغه پرمختیايي مرستې دي چې دوی ورته ددې موضوع د ښودلو په موخه اړتیا درلوده چې دوی کولای شي د کلیواله خلکو په اقتصادي لړلیدونو کې ښه والی رامنځته کړي. اما، دغه کار عملي بڼه خپله نکړه، او د کوکنارو بندیز هم کومه ګټه ونکړه، ترڅو د کلیوالو خلکو په منځکې په تېره بیا د پښتنو په ستراتیژیکو ولایتونو کې خپل ملاتړ په هغه وخت کې کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د میاشت پېښې رابرخیره شوې، تقویه کړي.

د کوکنارو په کر کې د پام وړ کمښت په برخه کې بریالی کړنلارې، د بلخ او ننګرهار په ولایتونو کې د تریاکو د تولید پروړاندې بندیزونه د طالبانو له بندیز سره د پرتلې وړ دي. سره لدې چې د کوکنارو د بندیز د بالقوه اغیزې په هکله چې دغه راز بندیز یې ښايي د کلیواله خلکو په معیشت او پراخ اقتصاد باندې ولري، لږ درسونه زده کړای شوي دي. پداسې حالکې چې یوازې دا ممکنه وه چې په ۲۰۰۱ کال د طالبانو د بندیز ډېره چټکه اغیزه تحلیل او تجزیه کړای شي، په ننګرهار کې د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ ترمنځ کلونو او په بلخ کې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۸ ترمنځ کلونو کې د اوږده مهال کار د کوکنارو د کر د وروستیو بندیزونو د تأثیر په اړه ډېرې مفصلې بیاکتنې او ارزونې ته لاره هواره کړه. د ننګرهار په اړوند، دغه کار په ۲۰۰۷ کال کې د کوکنارو پراخ کر ته د بېرته مخ کولو په اړوند دلیلونه توضیح کوي.

د دغو بندیزونو اغیزې د ننګرهار او بلخ په ولایتونو کې د موقعیت او ټولنیز- اقتصادي ډلو له پلوه توپیر درلود. په خاصه توګه، د کرنیز یا غیر کرنیز عاید له لاسه تلل چې د کوکنارو په کر کې د دخیلو خلکو لخوا تجربه شوې، د اقتصادي رکود د پراخې اغیزې له امله د هغو سیمو په ټولو برخو کې ډېر بدتر شوې چې بندیز پکې عملي شوی دی. د کوکنارو د کر د دریدو له کبله د کرنیزو عایداتو له لاسه تلل، د مزدورکارۍ د فرصتونو د پامور کمښت پوسیله چې د تریاکو له محصول سره تړلې وو، تر پخوا ډېر بدتر حالت غوره کړ. نتیجه یې په ولایتي مرکزونو کې د کار عرضه وه چې په خپل وار سره یې د مزدورکارۍ په نرخونو باندې اغیزه درلوده.[27] د ننګرهار په ولایت کې چېرته چې بندیز په خپل معمول حد کې ؤ، د وخت په تېریدو سره په عمده فروشۍ، پرچون او د یو شمېر سوداګرو په ګټه کې چې د نشه یي توکو د قاچاق سره یې هیڅ ډول نیغې رابطې نه درلودې او د هوټلونو او عامه پلورنځایونو، د جاري عاید د کموالي لامل وګرځید. همدارنګه د پور په کچه کې زیاتبدل هم په ننګرهار کې د ۲۰۰۵م کال د بندیز د پایلې په څېر تصدیق شوی ؤ، که څه هم دغه مسایل د کوکنارو اړوند پورته چې په کال ۲۰۰۱ کې د طالبانو د بندیز څخه وروسته رامنځته شول، د پیسو د بڼه ورکولو له تأثیر سره نه پرتله کېږي.[28]

د طالبانو د بندیز په ځواب کې د زراعتي محصول کرل او د ۲۰۰۵م او ۲۰۰۸ کلونو بندیز په ننګرهار کې، په خاصه توګه، کوکنار د غنمو سره د تعویض په موخه ترسره شوی دی. په قطعي شکل، د ننګرهار په لیرو پرتو ولسوالیو کې، د کر د ځمکې مساحت او د میشتو خلکو تراکم ددې لامل ګرځیدلې ترڅو لږ خلک د غنمو د اوړو له پلوه په خپل ځان متکي (خود کفا) وي، پدې صورت کې چې یوازې غنم وکري.[29] کورنۍ اړې دي چې خپل کرنیز محصولات خرڅ کړي یا کار وکړي ترڅو خپل لومړني ضروریات پوره کړي. له هغو ولسوالیو څخه چې له جلال آباد څخه لیرې دي، د کار بازار ته لاسرسي هم د مهارتونو، فاصلې، ټولنیز تړاو د کافي نارینه کارکوونکو د موجودیت له کبله محدوده شوی دی. د ننګرهار په ولایت کې، د ۲۰۰۵ او

[27] دیوید مینسفیلد، "?Pariah or Poverty: د ۲۰۰۴-۲۰۰۵ کلونو د کر په موسم کې د ننګرهار په ولایت کې د کوکنارو د کر په سر بندیز او د کلیواله معیشت په ستراتیژیو باندې د یاد شوي بندیز اغیزه، " په ختیځ افغانستان کې د بدیل معیشتونو لپاره د تخنیکي مرستو لپاره د آلمان د اداري پروژه (GTZ).

[28] "په افغانستان کې د کوکنارو په کر باندې د طالبانو د بندیز اغیزه."

[29] د ننګرهار په ولایت کې، شاوخوا ۷۱ په سلو کې هغه خلک چې مرکې ورسره ترسره شوې، نه یې شو کولای چې په کافي اندازه غنم تولید کړي ترڅو د غنمو له پلوه خود کفا اوسي، او یوازې ۱۰ په سلو کې یې کولای شو چې د پلورلو وړ اضافي غنم تولید کړي. منسفیلد، "د خطر او بې ثباتۍ په وړاندې غبرګون،"

۲۰۰۸م ترمنځ کلونو کې د باغدارۍ د لوړ ارزښت تولید د پراختیا په هکله شواهد موجود دي، دا یوازې په هغو ولسوالیو کې چې د ولایت له مرکز سره نږدې پرتې دي (لکه کامه، سرخرود او بهسود) د کوکنارو د کر په وړاندې د ودې وړ بدیل په څیر ثابت شوی دی. په ۲۰۰۷م کال کې په دغو ولسوالیو کې د کوکنارو د کر ټیټه کچه وساتله شوه، حتی په هغه وخت کې چې په ولایت کې نورو ټولو ولسوالیو د کوکنارو پراخ کرلو ته بیا مخه کړه. په ۲۰۰۸م کال کې، دوی د سبو تولید ته ادامه ورکړه پداسې حالکې چې د ولایت نورې برخې بیاهم د تریاکو په تولید باندې یو بل بندیز تجربه کوي، او د کوکنارو پرځای د غنمو په کرلو پیل کوي چې تر دې دمخه یې د ډیرې مودې لپاره نه کرل.

په عین شکل، د بلخ ولایت په چمتال او چاربولک ولسوالیو کې،[30] هغو کورنیو چې په هغو سیمو کې یې ځمکې درلودې او د اړتیا وړ اوبو څخه برخمنې وې، په ۲۰۰۷م کال کې د کوکنارو د کر بندیز ته د مالوچو او خټکیو په کرلو، د ځینو سوداګریزو سبزیجاتو په تولیدولو او همدارنګه (په لږو ځایونو کې) د وښو د کرولو په پیل سره خپل غبرګون څرګند کړ. سره لدې چې هغوی د ځمکې په عاید کې یو اندازه کموالی درک کړ، خو بیاهم د هغوی د معیشت ثبات ته کوم ګواښ نه ؤ. د هغو کورنیو لپاره چې خپل عاید له زراعتي کار څخه ترلاسه کاوه، دغه کاري فرصتونه په زیاته اندازه لږ شول، ځکه چې مالوچ او وابښه د کوکنارو په پرتله د پامور لږ کار/کارکوونکو ته اړتیا لري. دا مسأله نه یوازې دا چې د کرنې اړوند کار د فرصتونو د کموالي لامل وګرځیده بلکه همدارنګه د نغدي یا معادلې باړې (مزد) په نرخ کې یې هم کموالی رامنځته کړ.

هغو کورنیو چې د معیشت ثبات یې د کوکنارو له کرنیز کار څخه ترلاسه کړی ؤ داسې بریښېده چې په ۲۰۰۷ م کال کې د غنمو او مالوچو له کرنیز کار څخه د محدود مقدار عاید په ترلاسه کولو، د ښاري کار په لټه کې شي، او د سپمول شوي اپیین او غیر ضروري شتمنیو په پلورلو باندې لکه کورني څاروي چې د کوکنارو د کر کلونو په بهیر کې ساتل شوي وو، د اتکا کولو له لارې به خپل اړتیاوې پوره کړي. د طالبانو او د ننګرهار د بندیزونو په څیر، په بلخ کې ډیرې لاندې پرتې، بې ځمکې کورنۍ اړ شوې چې د بندیز له امله مهاجرت ته مخه کړي.

د افغانستان د نورو برخو په څیر، د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو اوږد او سخت ژمي چې وچ پسرلي ورپسې ؤ، د بلخ په کلیوال اقتصاد باندې یې ناوړه اغېزه درلوده. د کورني څارویو رمې د یخې هوا له کبله په مستقیم ډول متأثره شوې او د کورنیو د اهلي څارویو شتمنۍ له ۲۰ څخه تر ۷۰ په سلو کې تلفات درلودل. یاد شوی وچ پسرلی چې د کال د لومړۍ برخې په بهیر کې د خړوبولو د اوبو له کنګل سره یوځای ؤ، هم د اوبو څیرمه پاس او لاندې سیمو کې د غنمو د کم حاصل لامل وګرځید، چیرته چې د غنمو ډیره برخه له زرغونیدو څخه بې برخې شوه. د پروړې یا بوسو عرضه کمه ده او نرخونه یې جګ شوي. د اوبو د څیرمې په لاندې برخه کې میشتې کورنۍ چې کورني څاروي لري، د پروړې او یاهم بوسو د کم پیداښت او لوړ قیمت او همدارنګه د اوبو د شدید کموالي (ان د څارویو لپاره) له کبله متأثره شوي، باید د څارویو ټیټیدونکي نرخونه وګالي. د تېر کال راهیسې، د پسونو او وزو نرخونه په اغیزمنه توګه تر ۵۰ په سلو کې یا تر هغه زیات (تېر کال د هر څاروي په نرخ کې د ۳۰۰۰-۴۰۰۰ پوري) پرېوته. په عین حال کې، په مزار کې د زراعت اړوند یا غیر زراعتي کار زمینه لږه مساعده ده، او ډیرې کورنۍ د دغه راز کار په لټه کې دي، دا پدې معنا ده چې دوه کاله پخوا کله چې د باړې/ورځنی مزد نرخونو اعظمي کچه—۱۰ امریکایي ډالر/ورځې وه، اوس ۲-۳ امریکایي ډالرو/ورځې ته راښکته شوي. د غلې نرخونه د تېرو شپږو میاشتو په اوږدو کې دوه برابره یا تر دوه برابرو زیاته شوې. له همدې کبله کورنۍ د سوداګرۍ په برخه کې د ډېر کموالي سره مخامخ دي او مجبوره شوي ترڅو یوه داسې تګلاره

[30] د ادم پین سره وګورئ، *د اوبو مدیریت، مالداري او د تریاکو اقتصاد: "هغوی پرېږده چې خپلې ژمنې پرځای نکړي"*: په بلخ کې د کوکنارو د ساحو بندول او پایلې یې. (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، د ۲۰۰۸م کال دسمبر).

غوره کړې چې د دغو ستونزو له عهدې څخه بهر شي. دغه تګلاره د سپمول شویو شتمنیو کارول دي، او ترڅنګ یې د خوړو په مصرف کې کمښت او کډوالي په برکې درلوده. راپورونه ورکړل شوي دي چې کابو د ۷۰ تر ۸۰ په سلو کې د هغو کار کوونکو څخه چې د اوبو تر خیرمه په لاندې کلیو کې میشت وو، د کار کوولو په موخه یې ایران ته مهاجرت کړې او همدارنګه په دغه سیمو کې میشتې کورنیو په بشپړه توګه خپل کلي پرېښي.

په لنډه توګه باید وویل شي چې د بلخ په ولایت کې کلیوال اقتصاد د هغو کورنیو کلیوال اقتصاد سقوط کړی چې د اوبو ترخیرمه لاندې سیمو کې اوسیږي. د پرلپسې سخت ژمي او د غلې د جګو نرخونو په پام کې نیولو سره، دغه سقوط په نیغه توګه د کوکنارو د کر بندیز ته منسوبیدلی نشي. په هر حال، د بیوزلو کورنیو په سپمول شویو توکو کې د کموالي د اغیزو له امله، دغه کورنۍ د راتلونکو پیښو د پایلو په وړاندې بې شانه زیانمنونکې دي. د اوبو ترخیرمه نږدې میشتې کورنۍ هم اغیزمنې شوې، په ځانګړې توګه هغه کورنۍ چې په معاش یا مزدورکارۍ باندې متکې دي. د اوبو ترخیرمه په پاسنیو سیمو کې د مالوچو دوهم ځلي کر هم په سیمه کې کم شوی دی.

کوم سوال چې دلته راپورته کېږي هغه دا دی چې، د کوکنارو د سقوط په پام کې نیولو سره، ایا د بلخ ولایت به په راتلونکي کال کې د کوکنارو د بیا کر شاهد وي؟. د ننګرهار د کوکنارو د کر تاریخ سره یوه نیغ په نیغه مقایسه ښیي چې دا ښایي د امکان وړ وي (چې د بلخ په ولایت کې کوکنار بیا طغیان وکړي)، خو شرایط مختلف دي. په بلخ کې ټولنیزې فرقې (د توکم له پلوه) ممکن د ننګرهار په پرتله ډیرې ستري وي. د اوبو تر خیرمه په پاسنیو سیمو کې واک او قدرت د غوره کلیوالو او ټولنیزو ډلو ټپلو چې د امکاناتو له پلوه تر یوې اندازې ښه حالت کې دي (د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار ته د نږدې ځایونو په نسبت) پیاوړی دي، او د بې ثباته معیشت سره چې د اوبو ترخیرمه په لاندې کلیو کې میشتې کورنۍ ورسره مخ دي، هم ندي مخ شوي. دلته اساسي پوښتنه دا ده چې، تر څه وخته پورې به د ساتندویې ډلې شبکې دا موضوع ډاډمنه کړي چې ایا دغه راز کلي لیوال دي ترڅو د کوکنارو د کر په سر بندیز وساتي؟. د کوکنارو د بیا کر پېل د اوبو ترخیرمه لاندې سیمو کې ډیر کم احتمال لري، خو که چیرې د اوبو ترخیرمه پاسنۍ سیمې د کوکنارو په بیا کر پېل وکړي، نو بیا لاندینۍ سیمې به هم د پاسنیو په څیر چیرته چې اوبه موجودې دي، یو شان عمل وکړي. دا ګران کار دی چې په بلخ کې د کوکنارو د کر د بندیز نتیجه د کوم شي په څیر وکتل شي خو د موجودو جوړښتونو د غښتلي کولو او د نامساواتو د نمونو نتیجه په اسانۍ سره جوتوي چې دی ته بریالیتوب نشي ویل کېدای.

په ۲۰۰۸م کال کې، د ننګرهار ولایت یوځل بیا د کوکنارو د پاموړ کمښت شاهد ؤ. پدا سې حالکې چې د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو اداره له هغه وخت څخه راپدیخوا چې نوموړي اداری په افغانستان کې د کوکنارو د کر د کچو څارل پېل کړي[۳۱]، د لومړي ځل لپاره دغه ولایت "له کوکنارو څخه پاک" اعلام کړ، ددې موضوع په سر چې ایا د کر دغه کچه بې سارې ده که نه، یو لړ بحثونه موجود دي.[۳۲] په ولایت، حتی تر ټولو لیرې پرتو سیمو کې ډیر بزګران د کوکنارو دغه ټيټه کچه د طالبانو د بندیز له کال سره چې تر ۲۰۰ هکتارو کمه ځمکه د کوکنارو کر ته اختصاص شوې وه، پرتله کوي.[۳۳] په دغه ولایت کې د کوکنارو د کر وروستۍ کچې ته د پام څخه پرته، په ننګرهار کې د ۲۰۰۸ کال بندیز په یو ډیر خراب وخت کې نه شو پلی کېدلی. د غنمو د بیې لوړېدل، ډیرې کورنۍ سره لدې چې کابو ۹۵ فیصده ځمکې یې د غنمو کر ته تخصیص کړې وې، د خپلو غنمو د پوره کولو له اړخه د غنمو د لوړېدونکي ارزښت سره مخامخ شول. د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۸ کال په ډیرو

[۳۱] د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د افغانستان د کوکنارو سروې، ۲۰۰۸م کال،"

[۳۲] د متحده ایالاتو حکومت اټکل وکړ چې په ۲۰۰۸م کال په ننګرهار کې ۲۲۵ هکتاره تریاک تولید شوي وو.

[۳۳] د دیوید منسفیلد لخوا ساحوي کار، د ۲۰۰۸م کال د اپریل او اکتوبر میاشتې (د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری لپاره ریپوټ).

حالاتو کې، يوه کورنۍ به چې د دوه ټنو غنمو د کموالي سره مخ وه، نو د ۱۴۰۰ امريکايي ډالرو مصرف ته يې اړتيا درلوده چې هغه مقدار غنم چې يوازې د خپل لګښت لپاره به يې اړتيا درلوده، پوره کړي.[۳۴] د ۲۰۰۷ کال د مۍ په مياشت کې، د غنمو عين مقدار شاوخوا ۴۸۰ ډالره، يا په هغه وخت کې د ۳ کيلو ګرامترياکو معادل قيمت درلود. يوازې د غنمو په بيه کې د پاموړ زياتوالی رامنځته شوی ندی؛ بلکه همدغه راز د تېر کال په اوږدو کې د نورو اساسي توکو لکه غوړي، تېل او غوښې بيه هم په خاصه توګه لوړه شوې ده.[۳۵]

د خوړو، ترانسپورټ او نورو توکو او خدمتونو نرخونه د ورښت د ټيټې کچې له کبله، د پاموړ زياتوالي موندلی دی. همدارنګه—په ځينو نسبتاً وچو سيمو کې، لکه چپرهار او د شينوارو په لوړو پرتو سيمو کې، سرخرود او د خوګيانيو په لاندنيو سيمو کې، لږ ورښت د محصولاتو د نه زرغونېدو لامل وګرځېد. د ۲۰۰۶م کال څخه تر ۲۰۰۷م کاله پورې د کلچه پيازو په نرخ کې د کمښت له کبله او همدارنګه ځينې سوداګر چې زيات تاوان يې وګاله، دا هم د هغو عواملو له جملې څخه دي چې د سبو ډېر سوداګر يې د کرنيزو ځمکو لور ته د سفر کولو په وړاندې او د دغو محصولاتو لپاره د پيشکي پيسو په ورکولو کې (هرڅوکه سوداګرو د تېرو کلونو په بهير کې دغه کړنلار تعقيبوله) بې ميله کړل. د مزدور کارۍ د فرصتونو له لاسه تلل چې د کوکنارو د محصولاتو سره تړلي وو، نه يوازې دا چې د غيرکرنيزو عوايدو فرصتونه يې کم کړل، بلکه همدارنګه يې د جلال آباد په ښار کې د غيرزراعتي عوايدو په فرصتونو باندې ناوړه اغيزه هم وکړه. پدا سې حالکې چې د هغو کورنيو لپاره چې پاکستان ته د مهاجرت او همدارنګه د يوشمېر نارينه کار کوونکو امکانات لري، د مهاجرت په قوانينو کې تعديل رامنځته شو. لکه څنګه چې په پاکستان کې د افغانانو استوګنه

[۳۴] منسفيلد، "د خطر او بې ثباتۍ په وړاندې غبرګون،"

[۳۵] د کرنې، خړوبولو او مالدارۍ وزارت، د پلان او پاليسۍ ډيپارټمنټ، د بازار موندنې، اقتصاد او احصاييې څانګه "د کرنيزو سوداګريزو توکو د نرخ او بيې ورځپاڼه،" (کابل: د ۲۰۰۸م کال د اکتوبر د مياشتې ۱۵مه نېټه).

د دغه قوانينو تر انفاذ لاندې اداره کېږي، نو د تعديل موخه يې دا وه چې هغه کسان چې د پاکستاني تذکرې څخه پرته په پاکستان کې ګرځي يا ژوند کوي په معمولي شکل رشوت تاديه کړي تر څو هغوی وکولای شي لدې لارې د سرحدونو په شاوخوا کې خپل تشکيل (کار کوونکي) خوندي وساتي.

سياسي او امنيتي غبرګون چې په ننګرهار کې د ۲۰۰۵ کال له بنديز څخه وروسته د دوو کلونو په اوږدو کې په تدريجي توګه تکامل وکړ، په ۲۰۰۸ کال کې په ډېرې چټکۍ په ډاګه شو.

قومي مشران کوم چې پخوا د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو د کر په موسم کې د کوکنارو د بنديز په پلي کولو کې اغيزمن او ګټور وو، د ۲۰۰۸ کال د اپريل په مياشت کې د هغو ګنګوسو فعالين وګرځېدل چې ګواکې هغوی ته په پټه او مخفي شکل پيسې ورکړل شوي دي. ځينو يې د خپل بنديز په برخه کې د خپل موقف او ولايتي چارواکو سره د خپلو اړيکو په اړه په ښکاره توګه ځواب ورکړ. د رپوټ سره سم، هغه موافقه چې د شينوارو د اچين ولسوالۍ له لارې چې د پاکستان سره سرحد لري د حکومت ضد عناصرو تګ راتګ به بند کړي، هم فسخ شوه. د ۲۰۰۸ کال د جولای تر مياشتې پورې، د اچين ولسوالۍ په پاسنيو سيمو کې، پچير او اګام او دور بابا کې د حکومت ضد يو شمېر عناصرو د حضور په هکله رپوټونه موجود وو؛[۳۶] د ۲۰۰۸م کال د سپتمبر د مياشت پورې، د ولسواليو په مرکزونو باندې يو شمېر زياتيدونکی نيغ په نيغه بريدونه وشول. د انفرادي اشخاصو په هکله يو لړ ادعاوې موجودې وې چې د هغو ولسواليو په پاسنيو سيمو کې او سېرې چې د پاکستان سرحد ته نږدې پرتې دي، دا سې چې هغوی ډاډمن دي چې کولای شي په ۲۰۰۸م او ۲۰۰۹م کلونو کې کوکنار وکري او ځينو يې په ځواب کې سيمې ته د حکومت ضد عناصر هم رابللي دي.

د ۲۰۰۸م کال په دريمه برخه کې، رپوټ ورکړل شو چې په غوره ولسواليو کې چې د ننګرهار ولايت د سهيلي سرحد په اوږدو

[۳۶] د منسفيلد لخوا ساحوي کار، د ۲۰۰۸م کال د اپريل او اکتوبر مياشتې (د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې لپاره راتلونکی رپوټ).

کې پرتې دي، د حکومت ضد وسله وال عناصر په دايمي توګه ميشتېږي او همدارنګه د ټول ولايت په نورو ولسواليو کې په ړنا ورځ کې يې خپل زياتېدونکی حضور حفظ کړي دی.[37] د ۲۰۰۸م کال تر سپتمبر او نومبر مياشتو پورې، د چپرهار او خوګيانيو په شان ولسواليو کې او حتی د کابل—جلال آباد سړک په اوږدو کې د طالبانو د کنترول او د تالاشۍ ځايونو په هکله رپوټونه موجود وو. په عين حال کې، خوګيانيو ته د حاجي زمان د راګرځېدو په اړه ګونګوسې هم پېل شوې،[38] طالبان د ولسوالۍ په مرکز کې اختر اعلانوي او په ښځې کوټ او سرخرود کې "شب نامې" خپرېږي. دغه شب نامې په هغو کسانو باندې چې د حکومت لخوا ټاکل شوي د يرغل ګواښ کوي او همدارنګه هغوی د لورانو ښوونځي ته تګ تهديدوي. دغو ټولو په ولايت کې د عمومي بې ثباتۍ احساس رامنځته کړ، او په همدې ډول ډېرو بزګرانو د سږکال د نومبر د مياشتې په بهير کې د کوکنارو کر ځنډلی ترڅو وګوري چې ايا حکومت به د دې ظرفيت ولري چې د کوکنارو د کر څخه مخنيوی وکړي. په حقيقت کې د هغوی

[37] د افغانستان د نادولتي سازمانونو د خونديتوب د دفتر رپوټ، (د ۲۰۰۸م کال د اکتوبر د مياشت د لومړۍ نېټې څخه تر ۱۵مې نېټې پورې).

[38] حاجي زمان يو قومندان دی چې د ننګرهار د خوګيانيو د ولسوالۍ اوسېدونکی دی. په کال ۲۰۰۱ کې، نوموړی د جلال آباد د امنيې قومندان په څير ګمارل شوی ؤ او وروسته بيا کله چې د ۲۰۰۲م کال د اپريل په مياشت کې د پخواني دفاع وزير فهيم په قطار باندې په بمبارولو کې د لاس لرلو په تور تورن شو، له افغانستان څخه وتښتېد. د هغه په ورور حاجي امان خيرې باندې د ننګرهار د پخواني والي حاجي عبدالقدير (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۰۲م کاله پورې)، د ولسمشر مرستيال، د حاجي دين محمد ورور (چې د ۲۰۰۲م څخه تر ۲۰۰۵م کاله پورې د ننګرهار والي ؤ) او د حاجي زمان حريف په وژلو کې د لاس لرلو اتهام لګېدلی دی. دا ګمان کېږي چې حاجي زمان په افغانستان کې د دوو کلونو لپاره شتون نلري. د نړيوال بحران ډلې (ICG)ته مراجعه وکړئ، "افغانستان: د پښتنو د بېګانګۍ او بيزارۍ ستونزه،" *د نړيوال بحران د ډلې رپوټ*، (کابل/بروسل: د نړيوال بحران ډله، د ۲۰۰۳م کال د اګست د مياشت ۵مه نېټه).

ريښتنې انديښنې دا دي چې، ايا هغوی بايد د ترياکو د توليد بنديز د دوهم پرلپسې کال لپاره غوره کړي، په ځانګړېتوګه د خوړو د لوړو نرخونو او د دوامداره وچکالۍ د نښو نښانو په رڼا کې، امنيتي حالت ښايي په ۲۰۰۹م کال کې لا زيات بد شي.[39]

بالاخره، د طالبانو د بنديز په پايله کې د کوکنارو په کر کې حيرانوونکی کمښت د بلخ او ننګرهار په ولايتونو کې د ۲۰۰۱م کال څخه وروسته کامیابه شو چې د زياتېدونکي سياسي او اقتصادي بې ثباتۍ لامل وګرځېد. د ننګرهار په ولايت کې، په ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کلونو کې د کوکنارو د کر په کچه کې د زياتوالي د امکان کچه په خاصه توګه لوړه ده، او د بلخ ولايت، د پامور سخت ژمې په پام کې نيولو سره چې خلکو د غنمو يا غلې د محصولاتو شاړېدل تجربه کړي، د کوکنارو د کر خوندي او مصؤن دی. ډېر خلک به پدې باور لري چې، لومړی، ايا د پاکستان او قزاقستان حکومتونه به د کوکنارو په صادراتو باندې بنديز ته ادامه ورکړي او، دوهم، پدغو دوو ولايتونو کې حاکم او متداول امنيتي حالت دی. ددغو شرايطو په پامکې نيولو سره، ددغه مسألې ادعا ډېره ګرانه بريښي چې د کوکنارو په کر باندې دغه اړونده بنديزونه د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزو برياليتوبونه ګڼل کېږي. بلکه برخلاف، دغه کمښت به د کوکنارو په کر کې لنډمهالی کمښت وي چې دوام او ثبات يې ناشونی (ناممکن) دی او بالاخره دداسې يو چاپيريال د رامنځته کېدو لامل ګرځي ترڅو د هغو خلکو لپاره بې سوده په اثبات ورسېږي کوم چې کوښښ کوي چې بزګرانو سره د کوکنارو له کر څخه د بهر کېدو په ترڅکې د ډېر دوامدار او منظم بدلون په

[39] د ننګرهار ساحوي کار، د ۲۰۰۸م کال اکتوبر.

## III. مغشوش کوونکی پيوستون او علني څرګندونه؟

په افغانستان کې تاريخي لومړني معلومات (ډاټا) ښيي چې د کوکنارو په کر کې د پامور کمښت د يو کال په اوږدو کې کاميابېدی شي خو دغه کمښت په راتلونکي کال کې د پامور زياتوالي لامل ګرځي. د يو واحد کال په بهير کې د کوکنارو د کر په کچه کې د کموالي پر بنسټ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزو د برياليتوب اعلامول او دغه برياليتوب د نشه يي توکو

پر وړاندې د مبارزو کوښښونو ته منسوبول، دواړه د وخت څخه د مخه وړاندوينې دي، او دا چې د کوکنارو د کر د مختلفو عواملو د پېژندلو او د موقعيت او تولنيز-اقتصادي ډلو په اساس څنګه تو پير لري، بنستيزه ناکامي منعکسوي.

وروستی رپوټ چې د هيواد په شمالي، مرکزي او سهيلي سيمو کې د کوکنارو په کر کې بدلونونه تشريح کوي، د کيفيت او خاصيت ستونزه ښيي. د نشه يي توکو د توليد د کنترول هڅې د پاموړ اهميت څخه برخمنې دي. د نشه يي توکو د توليد د کنترول پر وړاندې هڅې، هم د هيواد په شمالي او مرکزي سيمو کې "د کوکنارو له کر څخه د ازادو" ولايتونو د زياتېدونکي شمېر د کاميابۍ او هم د هيواد په سهيل کې د ترياکو د توليد لور ته د زياتېدونکې پاملرنې په برخه کې د ناکامۍ لامل ګرځي.[40] په هرحال، د علت او انګيزې شواهد له وضاحت څخه ليرې بريښي. د پانې دغه برخه د کوکنارو د کر د بدلېدونکو نمونو اصلي عوامل د هيواد په بېلابېلو برخو کې ازمايي ترڅو په ډاګه کړي چې راز د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې هڅې په واقعيت سره پريکړه کوونکي او يا هم مشخصوونکي عوامل دي که نه.

## د کوکنارو له کر څخه د ازادو ولايتونو په شمېر کې زياتوالی

سږکال د کوکنارو له کر څخه د ازادو ولايتونو په شمېر کې يو اندازه زياتوالی راغلی دی،[41] چې په ۲۰۰۷م کال کې ۱۳ ته او په ۲۰۰۸م کال کې يې ۱۸ ولايتونو ته زياتوالی ومونډ. ډېرې خلک د کوکنارو د کر په سيمو کې دغه کمښت د حکومت د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزو هڅو ته منسوبوي.[42] په ځينو ولايتونو کې، لکه بلخ، د واليانو فعاليتونه د کوکنارو په لمنځه وړلو کې ډېر ګټور دي؛ په نورو ډېرو ولايتونو کې سره لدې چې کوکنار يکې په لږه اندازه کرل کېږي، ايا داسې شواهد موجود دي چې د ورته ادعاوو څخه ملاتړ وکړي؟ دا يقيناً پداسې وخت کې د حس او شعور خلاف بريښي کله چې بې امنيتي د هيواد په ټولو برخو کې د زياتېدو په حال کې ده، ان د هيواد په شمالي او مرکزي سيمو کې، د کوکنارو په کر کې کمښت په لومړي سر کې بزګرانو ته منسوبېدی شي چې د داسې يو حکومت د نشه يي توکو د مبارزو هڅو پر وړاندې خپل غبرګون څرګندوي د کوم قدرت چې تر پخوا ډېر د محدوديدو په حال کې دی. په ځينو سيمو کې، هغه اعلانونه چې د کوکنارو کر بندوي ممکن ترسره شوي وي او د کوکنارو محدوده ريښه ايستنه ښايي د موسم په وروستي پړاو کې په لاره واچول شي. ايا بياهم دا په واقعيت سره په ډېرو له دغو ولايتونو کې د کوکنارو د کر د ټيټو کچو ترشا اصلي او بنسټيزه تحميلي قوه ګڼل کېږي؟[43] يوه بله فرضيه دا ده چې دغه پېښې د ترياکو د لوړو نرخونو لور ته ګرځېدل (او بالاخره د ۱۹۹۰ لسيزې په څير د جغرافيايي خپرونې يا پراختيا لامل ګرځي) (۲ او ۳ شکلونه وګورئ). په ډېرو هغو ولايتونو کې چې د کوکنارو د جګ نرخونو له کبله د کوکنارو کر زيات شو، ممکن د طالبانو بنديز منعکس کړي، چې د غنمو، ايران ته د مهاجرت او—د امکان په صورت کې په کورني ژويو باندې د پانګه اچونې په موخه په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸م کلونو کې د کوکنارو کر ودروي. په حقيقت کې، د ترياکو د داسې يو ټيټ نرخ په صورت کې چې يو کيلو ګرام يې يوازې ۲۰ امريکايي ډالره ارزښت لري، له همدې کبله کوکنار نور په مرکزي او شمالي وچو ولايتونو کې چيرته چې سيمه ايز خلک د کوکنارو د کر لازم او اساسي مهارتونه نلري، او د ترياکو بازار

[40] د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو د اداری سره اړيکه ټينګه کړئ، "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۷م کال."

[41] د ۱۰۰ هکتارو څخه لږ توضيح شوي: د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداري ته مراجعه وکړئ، "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۷م کال."

[42] د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د افغانستان د کوکنارو سروی، ۲۰۰۷م کال."


[43] په ۲۰۰۷ کال کې، د بلخ، باميان، غزني، خوست، کندز، لوګر، نورستان، پکتيکا، پکتيا، پنجشير، پروان، وردک او سمنګان ولايتونه د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو د اداری لخوا د کوکنارو څخه د پاکو ولايتونو په څير رپوټ ورکړل شول. په ۲۰۰۸ م کال کې، غور، جوزجان، ننګرهار، سرپل او تخار د هغو ولايتو په لست کې راوستل شول چې د ۱۰۰ هکتارو څخه د کمو کوکنارو د کرلو اټکل پکې شوی وُ.

ته د هیواد په سهیل کې یوه ډېره اوږده لاره ده، د تطبیق وړ نه ښکاري.[۴۴]

سږکال د غنمو په نرخ کې د پام وړ زیاتوالی به یقیناً ډېر خلک ددې پوښتنې سره مخ کړي چې د داسې یو محصول د کرلو اغېزمنتیا به څه وي چې لږ حاصل او ټیټه بیه لري، په داسې حالکې چې هغوی کولای شي پرځای یې غنم وکري. د ځینو ولسوالیو په خیر لکه د غور په ولایت چغچران کې زیات شمېر بزګرانو وویل چې دوی لا د مخه پښیمان دي چې حتی په کمه اندازه ځمکه یې سږکال د کوکنارو کر ته تخصیص کړې وه.[۴۵]

د غور په دوو ولسوالیو (چغچران او دولت یار) کې، چیرته چې د کوکنارو کر د نغدي عوایدو د سرچینو د نشتوالي له امله، په ۲۰۰۸م کال کې باقي پاتې کېږي. په خاصه توګه، هغه خلک چې کورنۍ ځاروي نلري (د غور په ولایت کې ډېرو خلکو خپلې د ۴۰ نه تر ۸۰ فیصده رمې په سړنې ژمي کې له لاسه ورکړې) یا هغه خلک چې داسې زامن نلري چې د کار کولو توان ولري او د کار موندلو په موخه ایران ته په غیرقانوني شکل سفر وکړي، د کوکنارو کر ته دوام ورکوي. ځینو خلکو وویل چې یوازې یو لږ مقدار کوکنار یې په خپلو اوبو لرونکو ځمکو کې وکرل، کله چې هغوی وکتل چې د هغوی للمي ځمکې د پام وړ کم غنم تولیدوي، که چیرې ټوله ځمکه یې په همدې ترتیب تولید ولري، نو پایله به یې څه وي.

د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزو د هڅو د بریالیتوب ریښتنې ازموینه به دا وي چې، که چیرې د تریاکو نرخ لوړ شي په تېره بیا که چیرې د تریاکو او غنمو ترمنځ د سوداګرۍ په




شرایطو کې بدلون رامنځته شي، نو څه به پېښ شي. د بېلګې په ډول، تېر کال د غور په ولایت کې د درمند د موسم په بهیر کې د یو کیلو ګرام تریاکو په پلورلو سره شاوخوا **۲۵۰** کیلو ګرامه غنم پېرودل کېدای شول. د **۲۰۰۸**م کال د ژمي په بهیر کې، کله چې د غنمو نرخونه په خپل اعظمي حدودو کې وو، د عین مقدار تریاکو په پلورلو سره یوازې **۲۰** کیلو ګرامه غنم پېرودل کېدای شول.[۴۶] په هرحال، د نباتي امراضو د پېښېدو له امله چې په ولایت کې د کوکنارو بوټو ته زیان رسوي او په پای کې یو جریب ځمکه یوازې د ۱-۲ کیلو ګرامه محصول ورکوي، دا مسأله اوس ډېر مفهوم ورکوي چې، غنم وکرل شي او له یو جریب څخه د **۳۵۰** او **۵۰۰** کیلو ګرامو ترمنځ غنم حاصل شي، نسبت دې ته چې

---

[۴۴] ادم پېین، *په هلمند او غور کې د تریاکو د قاچاقو سیستمونه*، (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۲ م کال)؛ بل بایرډ او اولیور جونګلز، ”د تریاکو په اقتصاد کې د نرخونو او بازار متقابل عمل،“ د *افغانستان د نشه یي توکو په صنعت کې: د نشه یي توکو پر وړاندې د پالیسۍ لپاره جوړښت، فعالیت، ډینامیزمونه او پایلې*.


[۴۵] د کوکنارو د کر د کچې ستره ساحه چې د ۲۰۰۸ م کال د جولای په میاشت کې ولیدل شوه، نیم جریب وه. د ساحو ډېره برخه د **۱–۵** بسوو شاوخوا وه.

[۴۶] په غور کې د ۲۰۰۸ م کال د درمن د موسم په پېل کې د تریاکو نرخ **۲۵۰۰** افغانۍ/کیلوګرامۀ؛ د غنمو نرخ ۳۸ افغانۍ/کیلوګرامۀ.

کوکنار وکرل شي او بیا وپلورل شي او بالاخره یوازې د ۲۰ څخه تر ۱۲۰ کیلو ګرام غنم واخستل شي.

په شمالي زون کې ځینې وچ ولایتونه لکه بادغیس، فاریاب او سمنګان چې په ډېره کمه اندازه تریاک تولیدوي، ښايي سږکال د کوکنارو په کر کې په عین شان بدلون رامنځته کړي. دغه بدلونونه د غنمو د زیاتېدونکو نرخونو او د تریاکو د ټیټو نرخونو او حاصلاتو له کبله رابرخیره کېږي. ممکن په عین شکل بدلونونه په هغو ولایتونو کې واقع شي چې په زیاته اندازه للمي ځمکې پکې موجودې دي، لکه د بدخشان ولایت.

هغه څه چې د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کلونو د کر موسم ته د ننوتو په بهير کې نامعلومه پاتې کېږي دا دي چې، ایا دغه سیمې کولای شي چې د کوکنارو څخه ازاد حالت یا د کوکنارو د کر ټیټې کچې ته دوام ورکړي—کوم چې د کوکنارو او خوراکي محصولاتو یا کورنیو څارویو د بدلون په وړاندې د معاملې شرایط وو؟ یقیناً، که چېرې د تریاکو یا غنمو د نرخونو په تګلاره کې بدلون وای، نو ولایتي چارواکي به اړ وو ترڅو د غور ولایت په پرتله د نشه يي توکو پر وړاندې په خپلو مبارزو کې له لا زيات سخت دريځ څخه کار واخلي ترڅو د کوکنارو د کر کچه ټیټه کړي او د ښه ترسره کوونکو د اقداماتو تر نامه لاندې يو اندازه پيسې ترلاسه کړي. علاوه پر دې، دا هم معلومه نده چې، ایا ولایتي چارواکي به دې ته لیوال یا پرې قادر وي چې د کوکنارو کر ته د بیا مخه کولو پر وړاندې خپل غبرګون ښکاره کړي، په ځانګړېتوګه په افغانستان کې د خرابېدونکي امنيتي حالت او د ۲۰۰۹م (۱۳۸۸) کال په تړلتاکنو کې د کلیواله خلکو د ملاتړ له لاسه ورکولو د ویرې په رڼا کې.




## په سهیلي ولایتونو کې بشپړه پاملرنه

په سهیلي ولایتونو کې، د کوکنارو د کر کچه داسې بریښي چې ټیټوالی به و نه مومي او د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پالیسي په نړیوالو رسنیو او نورو سازمانونو لکه د سینلس کونلس لخوا د ناکامۍ د سختو تورونو لاندې راځي.[47] پداسې حالکې چې ځینې ولسوالۍ ښايي په ۲۰۰۸م کال کې د کوکنارو د کر په کچه کې د غنمو د نرخونو د لوړېدو له کبله، کمښت څرګند کړي، دغه کمښت په نورو شیانو د زیاتوالي له امله په خاصه توګه برابر حالت غوره کوي. په حقیقت کې، په شمالي، مرکزي او ختیځو زونونو کې د کوکنارو په کر کې کمښت لکه څنګه چې پاس توضیح شول، په افغانستان کې په ۲۰۰۸م کال کې د مجموعي کر کابو ۹۸ په سلو کې په سهیل او سهیل لویدیځو ولایتونو لکه د نیمروز، فراه، کندهار، هلمند او ذابل باندې تمرکز کوي.

ښايي تر ټولو حیرانوونکی موضوع دا وي چې په سهیل کې د کوکنارو لوړه کچه په داسې یو وخت کې چې د کوکنارو خالص

[47] د سنلس کونسل (اوس د امنیت او پرمختیا په اړه د نړیوال کونسل په نوم پیژندل کېږي) لخوا چمتو شوي خپروني وګورۍ، او په ځانګړیتوګه: "افغانستان – د پرېکړې ټکی ۲۰۰۸ کال،" (لندن: سنلس کونسل، د ۲۰۰۸ م کال فبروري).

عايد د پرلپسې څو کلونو لپار په زړه پورې نه ؤ، دوام درلود. په ۲۰۰۷م کال کې د وچو ترياکو د يو کيلو ګرام نرخ ۱۰۰ امريکايي ډالرو ته ټيټ شوی ؤ، او د کارکوونکو ورځنۍ باړه (تنخوا) ۱۰۰۰ افغانيو ته جګه شوې وه. د ۲۰۰۸م کال د خرمند پرمهال، د يو کيلو ګرام تازه ترياکو نرخ ۲۳ امريکايي ډالرو ته پرېوتی ؤ، مزدور کار کارکوونکو د محصول څلورمه برخه ترلاسه کوله او د يو هکتار ځمکې څخه شاوخوا ۱۰۰۰ امريکايي ډالره خالص عوايد ترلاسه کېدل،[48] او د غنمو سره چې له يو هکتار ځمکې څخه ۱۲۰۰ امريکايي ډالر ترلاسه کېدل، مقايسه کېدل.[49] دا هغه پوښتنه رابرخيره کوي چې، سره لدې چې په سهيل کې د کوکنارو نرخ نامناسب او زړه نه منونکی دی، ولې د کوکنارو د کرکچه دومره لوړه ده؟[50]

ځينې خلک ګمان کوي چې دا هغوی حرص دی[51] چې توصيه کوي— د ګرګندو شواهدو برعکس— چې بزګران په سهيلي ولايتونو کې د نورو بزګرانو په پرتله چې د هيواد په نورو برخو کې ژوند کوي، ډېرو ګټو په لټه کې دي او هڅه کوي چې خپله موجوده شتمني زياته کړي.[52] په هرحال، فزيکي امنيت په سهيلي ولايتونو کې د تېرې لسيزې په اوږدو کې، تر ټولو خراب حالت کې قرار لري. د کندهار او هلمند په ولايتونو کې دا سې ورځې ډېرې کمې پيښېږي چې يوه زړه بوګنوونکې پيښه چې مرګ او ژوبله له ځان سره لري، رامنځته نشي.[53] د ناامنۍ د دغه راز لوړې کچې اغيزه بايد کم ارزښته ونه ګڼل شي. دا نه يوازې دا چې د مرګ او ژوبلې لامل ګرځېدلی، بلکه همدارنګه اقتصادي وده او استخدام (کاري فرصت) يې هم محدود کړې دی، او د سيمې په ډېرو برخو کې يې اقتصادي بنسټونه او ټولنيز چوپړ ته لاسرسي کمه کړې ده. د بېلګې په توګه، د هلمند په ولايت کې ۱۴ روغتيايي پوستونه (بستونه) د کارکوونکو د خونديتوب په اړه د اندېښنو له کبله بند کړای شول.[54] په کندهار کې، کرنيز پراختيايي خدمتونه په ټول ولايت کې د ۱۷ ولسواليو څخه يوازې ۸ ولسواليو ته محدود دي؛ اند په هغو ولسواليو کې چې يو اندازه مرسته هم ترلاسه کوي، د حاکم امنيتي حالت له امله د کرنيزو خدمتونو پوښښ له پراخېدو څخه ليرې دي.[55]

په ډېره زياته مهمه توګه، د فاسدو چارواکو داړه مار سلوک او د پاټکونو زياتوالی او ځورونکي ټکسونه (ماليات) چې د ۱۹۹۰ لسيزې په نيمايي کې د مجاهدينو د پرزيدو او د طالبانو د ځواکمنېدو سبب وګرځېد، بېرته راګرځېدلی. متعاقباً، په سهيل کې د يو سوداګر لپاره يو کيلومتر سفر د ختيځ، مرکزي او شمالي سيمو په پرتله درې برابره لګښت لري، چې بازار ته د قانوني کرنيزو محصولاتو د حمل او نقل لګښت له حده زياتوي.[56] د هغو خلکو لپاره چې د سړک له لارې سفر خوښوي، د دولتي او غير دولتي فعالينو لخوا تاوتريخوالی، تهديد، او شکونه قانوني بڼه لري نه مستثنأ يا نه مننه.

[48] دا د يو جريب لپاره چې ۴ کيلوګرامه تخم په صفر لګښت، دوه ساعته د تراکتور کار ته چې ۵۰۰ افغانۍ/ساعت کار کوي، ۵۰X۲ کيلوګرامه بورۍ د سرې چې هريوه بورۍ يې ۱۵۰۰ افغانۍ بيه لري او ۲۵۰ کيلوګرامه د کيمياوي سرې بورۍ چې هر يوه بورۍ يې ۱۲۰۰ افغانۍ بيه لري او د وروستي محصول د درمن په بهير کې د کارګرانو لګښت ته اړتيا لري، د اړينو منابعو اټکل کوي.

[49] دا د يو جريب لپاره چې ۳۰ کيلوګرامه تخم په صفر لګښت، يو ساعت د تراکتور کار ته چې ۵۰۰ افغانۍ/ساعت کار کوي، ۵۰X۰.۵ کيلوګرامه بورۍ د سرې چې هريوه بورۍ يې ۱۵۰۰ افغانۍ بيه لري او ۵۰۱.۵ کيلوګرامه د کيمياوي سرې بورۍ چې هر يوه بورۍ يې ۱۲۰۰ افغانۍ بيه لري، د اړينو منابعو اټکل کوي. همدارنګه دا ۵۰۰ کيلوګرامه في جريب د غنمو د دانو اټکل کوي چې ۳۳.۳ افغانۍ فی کيلو ګرام نرخ لري او ۱۰۰۰ کيلوګرام د غنمو بوس چې في کيلوګرام يې ۱۰ افغانۍ ارزښت لري.

[50] د پرتلې له مخې د ترياکو او غنمو د ناخالصو عوايدو ترمنځ مقايسه سره مغايرت لري.

[51] د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره، "د افغانستان د کوکنارو سروې، ۲۰۰۷ کال،" ؛ "د متحده ايالاتو حکومت، د افغانستان لپاره د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې ستراتيژي" (۲۰۰۷ کال اګست).

[52] د دې مسألې په اړه مغشوشتيا ډېرې مهال، درامد د فقر د مقياس په توګه د کارولو سره يوځای دي. (د نشه يي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو اداره ته مراجعه وکړئ).

[53] په پوځ کې يوه منصبدار وويل چې د کندهار په ولايت کې د تېرو لسو مياشتو په اوږدو کې يوازې دوه ورځې دا سې وې چې د جګړې او مرګ ژوبلې په اړه رپوټ ندی ورکړل شوی. د ۲۰۰۸م کال د جولای مياشت.

[54] IRIN وګورئ، "افغانستان: ترهګري، ناامني چې روغتيايي پرمختګ تهديدوي،" http://www.irinnews.org/Report.aspx?ReportId=79396

[55] په سهيلي افغانستان کې اصلي خبروونکي، د ۲۰۰۸م کال د فبروري او اپريل مياشتې.

[56] مينسفيلد، "د خطر او بې ثباتۍ په وړاندې غبرګون."



د دغو شرایطو لاندی، کوکنار د خوښوونکي محصول بڼه غوره کړې—یعنې دا محصول چې کر یې لږ خطر لري خو په کوم چاپیریال کې چې کرل کېږي، له ډېر زیات خطر څخه ډک دی. کوکنار داسې یو محصول دی چې لوړ ارزښت، لږ وزن لري او نه خوسا کېدونکی محصول دی. د کوکنارو محصول بزګرانو ته په خپلو کلیو کې د پاتې کېدو او د پټي په سر د پلورلو زمینه مساعدوي، نسبت دی ته چې هغوی د ولسوالۍ، ولایت او زونونو بازارونو ته د خپلو محصولاتو د پلورلو په موخه د سفر خطر پغاړه واخلي، په تېره بیا د داسې یو نرخ لپاره چې ممکن د تولید لګښت پوره نکړي. پداسې حالکې چې، طالبان ښایي د کوکنارو د کر په لړکې په فعاله توګه د کوکنارو کر د سیاسي او مالي ګټو لپاره وهڅوي. رشوت اخستنه نه یوازی دا چې د یو لړ شیانو او خدمتونو په تېره بیا د کرنیزو محصولاتو او کار کوونکو لپاره د مارکیټونو د فعالیت خنډ ګرځېدلی، بلکه همدارنګه یې هغه فکر او احساس زیات کړې دی چې ګواکې د کوکنارو کر ګالل کېږي—یعنې که چیرې د فاسدو حکومتي چارواکو لخوا وهڅول شي.

په سهیل کې د خلکو په منځکې یو زیاتېدونکې فکر او احساس وجود لري چې هغه کسان چې په دولتي پوستونو کې کار کوي د طالبانو په پرتله د نشه یي توکو په قاچاق کې ډېر ښکېل دي،[۵۷] پداسې یو حالت کې د نشه یي توکو او ترهګرۍ پر وړاندې د اعتبار وړ ستراتیژۍ کې د ځینو دولتي لوړ پوړو چارواکو د ګوښه کولو وړاندیز کوي. په سهیل کې ډېر خلک ټینګار کوي چې دغه راز یو تګلاره به نه یوازی دا چې د نشه یي توکو په قاچاق کې کمښت رامنځته کړي بلکه د دولت سره د خلکو ملاتړ به هم زیات کړي.[۵۸] د اخ او ډب، ضعیفه حکومتدارۍ او بېوزلۍ د نابېره او تصادفي عواملو په پامکې نیولو سره، دا مناسبه او پرځای نه بریښي چې په سهیلي ولایتونو کې د کوکنارو په کر کې زیاتوالی یوازی د نشه یي توکو پر وړاندې ناکامه پالیسۍ ته منسوب شي. پداسې حالکې چې د طالبانو د ۲۰۰۱ کال بندیز او پرلپسې بندیزونه څرګندوي چې د تریاکو تولید او قاچاق څنګه کولای شي چې بحران او ضعیفه حکومتداري، د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزو هڅې بدتروي او لاضعیفه وي یې چې د کوکنارو په کر کې د پاموړ کمښت تعقیبوي کله چې هیڅ ډول نوری کامیابه او دوامداره لاری چاری موجودی نوي، نو کېدای شي چې ورته پایلو لامل وګرځي. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزو د بریاوو او ناکامیو د ارزولو دغه میلان چې په ساده ډول د کوکنارو کر د کچې کلنې سر ټکي کاروي، د کوکنارو د کر سره د تړلو عواملو او علت په سر د مغشوشتیا سبب ګرځي.

د اصلي او اساسي شاخص (معیار) په څیر د هغې ځمکې د اندازې په کارولو سره چې په کوکنارو کرل شوی وي، د کوم په وسیله چې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزو اټکل کېږي، نه یوازی د بریالیتوب د څرنګوالي په برخه کې مغشوشتیا په ښه کوي، بلکه دا مسأله هم پیچلې کوي چې، په ریښتنې توګه څه

[۵۷] مینسفیلد، "د خطر او بې ثباتۍ په وړاندې غبرګون."

[۵۸] په سهیلي افغانستان کې اصلي خبروونکي، د ۲۰۰۸م کال د فبروري او اپریل میاشتې.

ته اړتیا ده ترڅو تخیلي بریالیتوب ته حقیقي بڼه ورکړای شي. حتی اوس هم، د کوکنارو په کر کې د بدلون میلان د نورو فعالیتونو د بېلابېلو پایلو په څیر لیدل کېږي لکه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې بودجه چې په بنیادي توګه نامناسبه ترتیب او تشکیلېږي، ریښه ایستنه، معلوماتي کمپاینونه او تش په نوم د بدیل معیشت د نورو لارو چارو پروګرامونه. د کوکنارو د کر په سیمه کې تل پاتې کمښت په ډېرو زیاتو عواملو پورې اړه لري، په ځانګړې توګه په امنیت، اقتصادي ودې او حکومتدارۍ کې د ښه والي د رامنځته کېدو په څیر. د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزې به په یوازې او خپل ځاني توګه تل ناکامه پایلې ولري. تر کومه ځایه چې دا تصوري بڼه لري او په یوه محدوده لار کې پلې کېږي، د پراخ پرمختګ سره موازي ګڼل کېږي (نسبت دې ته چې د پراخ پرمختګ د یوې برخې په څیر په پامکې ونیول شي)؛ او، اقدامات په هغه صورت کې د یو داسې شاخص (معیار) په وړاندې ارزول کېږي له کوم څخه چې د واقعي اندازه کولو په پرتله د زیات اندازه کولو تقاضا کېږي.

## IV. مخ په وړاندې لارې

دا موضوع په پراخه کچه تشخیص شوې چې د نشه یي توکو اقتصاد د افغانستان په سیاسي او اقتصادي جوړښت باندې اغیزه کوي.[59] پدغه وروستیو کې د حاجي جمعه خان نیونه[60] او په متحده ایالاتو کې د حاجي نورزي محاکمه کول[61] یو اندازه پرمختګ په ګوته کوي چې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د پالیسۍ په نورو برخو کې ترسره کېږي. د کوکنارو د کر کچې اوس هم د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د هڅې په ټولې لړۍ کې د اجرأتو د اخرني تحول او بدلون د ښې په څیر ښکاري. د ټولو ولایتونو یا د سیمو په ټولو هغو برخو کې چې کوکنار پکې کرل شوي وي، د لنډمهالي کمښت د بریا سطحې تعقیب، د سرچینو او شرایطو له توپیر څخه اغماض کوي (له نظره غورځوي)، دا هغه موضوع ده چې د کوکنارو په کر کې د ښکېلو خلکو لخوا تجربه شوي، او بالاخره بې ګټې بلل کېږي. د اجرأتو د اندازه کولو لپاره د هکتار واحد کارول او نوموړی واحد په هر هغه کال کې چې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د هڅو د کچ کولو په موخه پا پامکې نیول شوی وي د کوکنارو په کر کې د هر راز بدلون خصوصیت د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د ناکامۍ په اساس تاکل کېږي ترڅو دا معلوم او مشخص شي چې څه ته اړتیا ده ترڅو په افغانستان کې د کوکنارو په کر کې تل پاتې کمښت رامنځته شي. پدې ترڅکې د دوو تګلارو غوره کولو ته اړتیا لیدل کېږي: لومړۍ یې په پراخې پرمختیایي اجندا کې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په بشپړ ډول یو ځای کول دي؛ دوهمه یې (د لومړۍ سره تړلې ده)، د پرمختګ د ښه اندازه کولو اړتیا ده.

### د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې ژغورل

د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزو د هڅو سره د ریښه ایستنې، معلوماتي کمپاینونو او د معیشت د نورو لارو چارو د اقداماتو د ورته والي (مترادف والي) په اړه—یعنې ټولې هغه سیمې چې د عمل تعمیل ته برابرې دي او په مشخصه توګه د نشه یي توکو

[59] "د کوکنارو د اقتصاد روښانه کچه او ماهیت پدې مانا دی چې دا د افغانستان په اقتصاد، د هیواد په ټولنه او سیاست کې خپل نفوذ زیاتوي او په خطرناک ډول یې متأثره کوي. د کوکنارو اقتصاد د فساد یوه پراخه سرچینه ده او د دولت او د دولت د سیمه ییزو استازو مشروعیت په ژوره توګه زیانمنوي."

[60] "د افغانستان د تریاکو اساسي عامل د ترهګرو طالبانو د ترهګري تمویلوي،" د خبرپانو ګڼې چې دا موضوع پکې ذکر شوی ده: ۳۰۷-۲۰۲- ۷۹۷۷، (DEA عامه چارې، د ۲۰۰۸م کال د اکتوبر د میاشت ۱۴ مه نېټه).

[61] "د طالبانو لوړپوړی غړې او د پخوانیو مجاهدینو سپهسالار د تریاکو په قاچاق ورلو مجرم وګڼل شو،" د خبرپانو ګڼې چې دغه موضوع پکې ذکر شوی ده: ۲۱۲- ۳۳۷- ۲۹۰۲، (DEA عامه چارې، د ۲۰۰۸م کال د سپتمبر د میاشت ۲۴ مه نېټه).

پر وړاندې د مبارزې په توګه په نښه شوي. یو لړ میلان او لیوالتیا وجود لري. د دې موضوع محدوده پوهه چې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د اغېزمنې پالیسۍ اساس څه جوړوي، یوې داسې هیلې ته لار پرانیزي چې دغه راز اقدامات به په خپله په نېغه توګه د کوکنارو په کر کې د کمښت لامل وګرځي؛ کوم چې په هرحال، دوی یې نشي کولای.

اوسمهال هرڅه چې د نشه یي توکو پروړاندې د فعالیتونو په توګه انګېرل کېږي، اړین بلل کېږي—ددې لپاره چې د کوکنارو په کښت کې کموالی راولي کافي ندي. د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزو د هڅو تجریدول ځینو خلکو ته د نشه یي توکو د کنترول په ټولنه کې د کنترول او همدارنګه د بودجې او پالیسۍ د لاربنود په اړه اندېښنه پیدا کړې ده؛ دې مسألې ډېرو خلکو ته د پرمختګ په ټولنه کې پدغه موضوع کې د ښکېلېدو څخه د ډډه کولو فرصت هم ورکړې، لدې وېرې چې داسې نه چې د هغوی پروګرامونه فاسد شي. دا ډول تګلار هغه خلک چې خپل بنسټیز مقصد په افغانستان کې د کوکنارو د کر د کمښت په څېر ارزوي، اړ باسي چې مناسبې لارې چارې خپلې کړي ترڅو هغه پایلې لاسته راوړي چې د ننګرهار او بلخ په ولایتونو کې لیدل شوي. نه د نشه یي توکو د کنترول ټولنې او نه هم پرمختیایي فعالینو له دغه مصنوعي جلاتوب څخه ګټه اوچته کړې.

حقیقت دا دی چې د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزو بریا یوازې د دولت-جوړونې او د پرمختګ د یوې پراخې پروسې د نتیجو له لارې په لاس راتلی شي. یو لړ اقداماتو ته اړتیا ده ترڅو د معیشت بې ثباتي چې په لومړي سرکې د کوکنارو د کر د زیاتېدو لامل ګرځي، کمه کړي. ددغو اقداماتو زیاته برخه له هغه څه څخه به بهر وي کوم چې ډېری مهال د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د فعالیت یا ستراتیژۍ په توګه توضیح کېږي.

د کلیوالي معیشت په ثبات کې دوامدار ښه والی منظمو هڅو ته اړتیا لري ترڅو د امنیت او پرمختګ اقداماتو ته لار هواره کړي. یوازې د کلیو په پراختیا کې پانګه اچونه نشي کولای چې دغه لاسته راوړنې ولري یا د کوکنارو په کرنه کې دوامدار کموالی رامنځته کړي. د بېلګې په توګه که چیرې په امنیت او حکومتدارۍ کې سمون رامنځته نشي نو هغه اقدامات به چې موخه یې عامه ګټو او خدمتونو، ټولنیز خوندیتوب (مصؤنیت) او همدارنګه بدلېدونکې کرنیز او غیر کرنیز عاید ته د لاسرسي زیاتول دي، بې ثباته کړي. اداري فساد، بې امنیتي او د حکومت غېر موثرې ادارې د کرنیز سوداګریزو توکیو او د کار د بازارونو فعالیت په خطر کې اچوي کوم چې په خپل وار سره د مشروع معیشیت د ټاکلو واک محدودوي. د حکومت ضد عناصرو حضور کولای شي د ټولو په تېره بیا د پراختیایي مرستو له رسېدو څخه مخنیوی وکړي.

د افغانستان دولت پوهېږي، چې د تریاکو او د هغو د مشتقاتو تولید، قاچاق او کارونه په ټول هېواد کې د پرمختګ په وړاندې یو ستر ګواښ دی. همدارنګه پدې هم پوهېږي چې یوه پروژه یا یو پروګرام نشي کولای هغه متعدد فکتورنه په ګوته کړي چې د کوکنارو کرنې ته یې پراختیا ورکړې ده. نو له همدې امله ډېرو هراړخیزو او پرلپسې هڅو ته اړتیا ده. شواهد په افغانستان او همدارنګه په نورو هغو هېوادونو کې چې نشه یي توکي تولیدوي، ددې حقیقت ښکارندوی دي چې د امنیت، اقتصادي ودې او حکومتدارۍ هغه ترکیب ته اړتیا ده ترڅو د پرمختګ اغېزې چې د کوکنارو په کرباندې بشپړه اتکا به کمه کړي، په عمل کې پیاده کړي.[۲۲]

یو لړ دولتي فعالیتونه ددې لپاره طرح شوي چې په نېغه توګه په افغانستان کې د نشه یي توکو مسأله مهار کړي، دغه فعالیتونه: د قانون د انفاذ هڅې، د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د پولیسو سمبالول؛ دنشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د وزارت بنسټیزه ځواکمنتیا؛ او د کوکنارو د کښت په تقاضا کې د پامور کمښت په برکې لري. دا ټول یو پراخ بنسټیز کاري

[۲۲] د آلمان د تخنیکي مرستو اداره (GTZ)، "د تریاکو په چاپیریال کې پرمختګ: د بدیل پرمختګ په لور یوه ستراتیژیکه تګلاره." (بحثي پاڼه، د تریاکو د کنټرول پروګرام، د ۲۰۰۲م کال د فبروري میاشت).

چوکاټ او ډیرې همغږې تګلارې ته اړتیا لري، چې دا دواړه باید اغیزمن او هم دوامداره وي. د بېلګې په توګه، ژغورونکې هڅې په قضایي سیستم کې پانګه اچونې ته اړتیا لري، چې پایله به یې بریالۍ مرافعه وي، د تقاضا د کموالي د هڅو اړتیا چې په فعال روغتیايي سیستم کې عملي کېږي، ترڅو د درمل کارونې بنسټیز لامل پداسې وخت کې په ګوته کړي کله چې د نشه يي توکو لور ته د رجعت د لوړې کچې څخه مخنیوی کېږي؛ او د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې وزارت ددولت په چوکاټ کې د وزارتي جوړښت پر بنسټ باید ددې ورتیا ولري، چې یو پراخ پروګرام د عمومي اداري د اصلاح لپاره چې د نشه يي توکو پرواړندې د مبارزې لپاره موثر مدیریت ولري په لاره واچوي.

همدارنګه ځینې نور ډیر اقدامات وجود لري چې په نامشخصه توګه موخه یې په افغانستان کې د غیرقانوني درملو په تولید ، قاچاق او کارونه کې د کمښت رامنځته کول دي کوم چې هیڅکله به په افغانستان کې د نشه يي توکو په کنترول او مخنیونه کې ستره کامیابي ونلري. ځینې ددغو اقداماتو څخه چې د نشه توکو د کنترول په هڅو باندې لړه مستقیمه اغیره اچکلوي، د کلیواله معیشتونو د نوښت برخه جوړوي؛ په سکتورونو کې هغه پروګرامونه لکه ترانسپورټ، عامه چارې او مسلکي زده کړې کولای شي د هغه ګوانښ د کمښت سره مرسته وکړي کوم چې نشه يي توکو د افغانستان پرمختګ ته مواجه کړي دي.

پدغه کاري چوکاټ کې ځینې پروژې یا پروګرامونه شته چې جلا باید په پامکې ونیول شي، د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې هغه اقدامات چې یوازې په خپل ځان متکي دي د غیر قانوني درملو د تولید ، مصرف یا قاچاق په لمنځه وړنه کې به نتیجه ورکړي. ددې پرځای د نشه يي توکو پروړاندې مبارزه دی ته اړتیا لري چې د دولت جوړونې او اقتصادي پراختیا د پراخه بهیر سره یوځای یا مدغم شي. دا ددې څرګندوی ندي چې د نشه يي توکو موضوع دې له یاده وویستل شي او د پرمختګ څخه دی د یو بهرنی موضوع په څیر سترګې پټې شي. دی ته څرګنده اړتیا ده چې په مختلفو بنسټیزو سکتورونو (امنیت، حکومتدارۍ او اقتصادي وده) کې د اقداماتو اغېزمنتیا د غیرقانوني نشه يي توکو په کرنه سوداګرۍ او مصرف کې په پامکې ونیول شي ترڅو د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې هڅې ګټورې پایلې ولري.

ددغه راز یوی بشپړې تګلارې لپاره بنسټ له پخوا څخه موجود دی، سره لدی چې، دا بنسټ د حقیقت په پرتله د لوړې هیلی په مرحله کې دی. نشه يي توکي د یوې "هراړخیزې موضوع" په توګه د افغانستان د ملي پرمختګ په ستراتیژۍ او همدارنګه د نشه يي توکو د کنترول په ملي ستراتیژۍ کې پیژندل کېږي. دغه ډول تګلار به د نشه يي توکو موضوع بې ارزښته نکړي او له پامه به یې ونه غورځوي. باید هڅه وشي چې د نشه توکو پروړاندې مبارزې ته دتګلارې په سر کې ځای ورکړل شي او کاري پلان باید داسې جوړ شي چې په ژوند او معیشیت کې سمون راولي کوم چې د افغانستان خلک دا دواړه غواړي. د ا په نورو ځایونو کې د غوره او اصلي شاخصونو په توګه د کوکنارو په تلپاتې کموالي کې پیژندل شوي دي. دا ددې څرګندوی دي چې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه په هغه سیمو کې چې کوکنار پکې کرل کېږي یوه مهمه موضوع ده. دا زیاتوي چې، که چیری د نشه يي توکو پروړاندې مبارزه د یوی هراړخیزې موضوع په ښه اداره شي، نو د کوکنارو ساحه د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د بریا د شاخص په توګه کافي نه ګڼل کېږي.

## د پرمختګ د کچ کولو د غوره مقیاس رامنځته کول: *د معیشت په ثبات باندې تمرکز*

د نشه يي توکو د کنترول ملي ستراتیژۍ د هغو سیمو ستونزې چې کوکنار کري په ښکاره توګه په ګوته کړې دي کوم چې د نشه يي توکو د مبارزې پروړاندې د پرمختګ ارزونه کوي.[۲۳]

[۲۳] د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې وزارت، "د ترياکو د کنترول ملي ستراتیژي،" ۲۲. "تر اوسمهاله، افغان حکومت د کوکنارو د کر په کچو کې د کال په کال کمښت له لارې د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې پرمختګ کچ کوي."

د هغه شواهدو په اساس چې پدغه پاڼه کې وړاندې شوي، له دی دریځ څخه په بشپړه توګه ملاتړ کوي. دویمه ستونزه د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې دکړنو په ارزونه کې د هکتار واحد استعمال دی. ستونزه په دې کې ده، چې د شاخصونو استعمال چې د لنډ مهاله پراختیا[24] د پایلو او اوږد مهاله پراختیا ترمنځ چې د نتایجو د ارزونې لپاره په کار وړل کېږي، ښکاره توپیر وشي. د افغانستان د نشه يي توکو د کنترول ملي کړنلاره د کوکنارو د کرلو سیمې د اصلي شاخص په توګه استعمالوي، ځینې شیان ممکن د انتقالي پراخ بهیر په منځمهاله یا اوږد مهاله دوره کې لاس ته راشي او په امنیت کې سمون، د قانون واکمنې او د پراختیا پایلې زیانمنې کړي تر ډېره د کوکنارو د کر په سیمو کې دا ادعا کېږي چې د کموالي علت پدغو سیمو کې د کړنلارې بریالیتوب دی او دا هېروي چې دغه لاس ته راوړنه څنګه منځته راغلې ده؟ چټک کموالی پدغو سیمو کې په زور د کوکنارو او غذایي محصولاتو تجارت کې بدلون د اوږدې مودې لپاره اړین ندی. ددغه لنډ مهاله کموالي لاملونه له هغې احصاییې څخه لاس ته راغلي دي چې پدغه سیمه کې استعمال شوي دي. لاس ته راغلي شاخصونه دا په ګوته کوي چې هغه ساده بدلونونه چې دزور یا محوه کېدنې له امله منځته راغلي، په نشت حساب دي.

دا د کوکنارو د کر د سیمو بنسټیز ضعف د یو شاخص په توګه ښکاره کوي. د هغه کچې په اړه د وضاحت نشتوالی چې د اندازې لپاره یې شاخص کارول کېږي، د نشه يي توکو پروړاندې د پالیسۍ د اغېزو په اړه د بې ځایه ادعاوو لامل ګرځي، ځکه چې خپله کچ یا مقیاس هغه موضوع چې موخه یا پایله څنګه ترلاسه شوې، ترپوښتنې لاندې نه راولي. لدی کبله، ښه او غوره شاخصونو ته اړتیا ده ترڅو هغه نښې او ښېلګې چې د کوکنارو په کرکې د کمښت د بریالیتوب څرنګوالی په ګوته کوي، چمتو کړي؛ دغه شاخصونه باید د کوکنارو د کر د ساحې احصاییه بشپړه کړي ترڅو د پراخو بدلونونو د رامنځته کېدو نښې چې د کوکنارو له کر څخه دوامداره انصراف هڅوی او ملاتړ یې کوي، چمتو کړي. هغه د پام وړ مهم رول(د استدلال له پلوه مثبت) چې کوکنارو په کلیواله اقتصاد کې لوبولی—په تېره بیا د ټولنیز خوندیتوب (د خوړو خوندیتوب، پور ته لاسرسي[25]) او د اقتصادي ودې په برابرلو کې، او همدارنګه د شخړو د حل له پروسو سره[26] د یو مرستندویه په توګه—هغه سیمې مشخصوي چېرته چې بدلون د کوکنارو د ګټو په غرض په بالقوه توګه تعویض کېدای شي.

لومړی جدول د شرایطي بدلون د پایلو د وړاندیز شوې ټولګې لنډیز کوي چې کېدای شي د یو داسې چاپېریال د بریالیتوب د ښودلو لپاره وکارول شي چې د کوکنارو له کر څخه د کورنیو دوامداره او باثباته حرکت لامل ګرځي. دا باید د کوکنارو په سیمه کې د بدلونونو ترڅنګ اټکل او وارزول شي ترڅو په اړینه توګه د بدلون ترشا عوامل په ګوته شي. د پاملرنې وړ ده چې دا د پایلې بنسټیز مقیاسونه دي چې باید په پام کې ونیول شي. همدارنګه دا د اړتیاوړ شرایطو ساده طرحه یا شکل هم دی، او هغه فعالیتونه نه مشخصوي کوم چې د پلې کولو لپاره یې ضروري دي. دا به د شرایطو سره سم رامنځته کېدو ته اړتیا ولري.

دغه جدول په عمدي شکل د شرایطو اټکل او ارزولو ته اړتیا لري چې د سیمې پربنسټ تشخیصېږي ترڅو بېلابېل جغرافیایي او اقتصادي محدودیتونه مهار کړي. د هغو سیمو ترمنځ یوه پراخه ویشنه رامنځته شوی چې د کوکنارو کر پکې په لوړه او منځنۍ کچه امکان لري(د امکاناتو د کیفیت، د ځمکې او اوبو، او د بازار د نږدیوالي په ګډون) او د هغو سیمو ترمنځ چې د کوکنارو کر پکې لږ امکان لري(له بازارونو څخه

[24] د محصولاتو، پایلو او اغېزو ترمنځ اوڅار توپیر وجود لري. محصولات هغه تولیدات دي چې د پراختیایي اقداماتو په پایله کې منځته راځي، پایلې د اقداماتو څخه د لاسته راغلیو محصولاتو د لنډ مهال څخه تر منځني مهال پورې نتیجې دي، او اغېزې اوږدمهالې نتیجې دي چې د پراختیایي اقداماتو له لارې رامنځته کېږي.

[25] ادم پین، کوکنار او غیررسمي پور، (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۸ کال).

[26] جن کوهلر او کرستوفر زرچر، "په افغانستان کې د دولت جوړونه، بحران او نشه يي توکي."

## لومړی جدول: د نشه یي توکو پروړاندې مبارزې ته اړوند د کلیوالي معیشت د ثبات شاخصونه

| موخې او پایلې | | | د تصدیق وړ عیني شاخصونه | د تصدیق منابع |
|---|---|---|---|---|
| موخه | | د کوکنارو په کر او د غیرقانوني نشه یي توکو په تولید کې دوامدار کمښت | د تریاکو په سیمه کې په ملي کچه کمښت | د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو او نورو ادارو سروې او احصاییې |
| | | | د فزیکي امنیت زیاتوالی | د امنیت ګډه ارزونه |
| | | | د خوړو د خوندیتوب زیاتوالی | د ملي خطر او زیانمننې د ارزونې د ادارې او نورو ادارو سروې |
| | | | د کلیوالي عاید کچه لوړول | |
| پایلې | د ځمکې او اوبو له پلوه شتمنې کورنۍ | د شخص او شخصي ملکیت د مصؤنیت د اړمنول | د کورنیو ارزونې | د ګډ امنیت او شخړو او لانجو د ارزونې رپوټ |
| | | د شخړو او لانجو د حل د بنسټیز میکانیزم رامنځته کول او د هغې عملي موثریت | د شخړو او لانجو ارزونې | |
| | | د سوداګریزو توکو د کامیابېدو وړ او مشروع بازارونو فعالیت | د پلورلو او پېرلو د مشارکت او عوایدو ارزونه | د حجم او نرخ په اړه د سوداګریزو مالونو د بازار ارزونې |
| | | د کرهنې د سیستم توپیر او د غیر کرنیزو محصولاتو په خرڅلاو کې زیاتوالی | د پټي او کورنې عوایدو سروې | د سروې رپوټونه |
| | | د کوکنارو د کر د سیمې کمول | په محلي کچه د کوکنارو د کر په سیمه کې څو کلنې کمښت | د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو او نورو ادارو سروې او احصاییې |
| | د ځمکې او اوبو له پلوه بېوزله کورنۍ | د تریاکو څخه پرته د لومړنیو خوړو د خوندیتوب د اړمنول | د خوړو د خوندیتوب ارزونې | د ملي خطر او زیانمننې د ارزونې د ادارې او د خوړو د نړیوال سازمان مدارک؛ د سوداګرۍ د شرایطو تحلیل |
| | | د شخص او شخصي ملکیت د مصؤنیت د اړمنول | د کورنیو ارزونې | د ګډ امنیت او شخړو او لانجو د ارزونې رپوټ |
| | | د شخړو او لانجو د حل د بنسټیز میکانیزم رامنځته کول او د هغې عملي موثریت | د شخړو او لانجو ارزونې | |
| | | د کرنیزو چارو څخه پرته د کاري فرصتونو برابرول او د خوړو خوندیتوب ته عملي بڼه ورکول | د معاش او ګمارنې درجه لوړول | د کلیواله کار د بازار رپوټونه |
| | | د کوکنارو د کر د سیمې کمول | په محلي کچه د کوکنارو د کر په کچه کې څو کلنې کمښت | د نشه یي توکو او جرمونو پروړاندې د ملګرو ملتونو او د نورو ادارو سروې او احصاییې |

لیری پرتې دي او یا هم د ځمکې د خړوبولو لپاره محدودې اوبه لري). سربېره پردې د هغو کورنیو ترمنځ په زیاته اندازه تبعیض وجود لري چې د ځمکې او اوبو له پلوه غښتلې دي (دغه کورنۍ په بنسټیز ډول په هغو سیمو کې موقعیت لري چې د کوکنارو کر پکې د لوړې او منځنۍ کچې امکان څخه برخمنې دي) او د هغو کورنیو ترمنځ چې د ځمکې او اوبو له پلوه بېوزله دي (دغه کورنۍ په هغو سیمو کې استوګنه لري چې کوکنارو کر پکې په لوړه، منځنۍ او ټیټه کچه امکان لري).



لکه څنګه چې پاس ذکر شو، د معیشت د ثبات د ښه والي لپاره درې لارې وجود لري: د ټولنیز خوندیتوب ترلاسه کول، د بنسټیز امنیت ازمایل او له اقتصادي ودې څخه ګټه اخستل. دا باید درک او په پام کې ونیول شي چې د ځمکې او اوبو له پلوه د بسیا کورنیو او د ځمکې او اوبو له پلوه د بېوزله کورنیو ټولنیز خوندیتوب او اقتصادي اړتیاوې سره توپیر لري. یو شمېر بزګران ښايي د خپلو کورنیو د خوړو د خوندیتوب او نه کرنیزو تولیداتو د عوایدو په برخه کې د پاموړ ونډه ترلاسه کړي. پداسې حالکې چې یو شمېر نور بزګران به د خوړو د خوندیتوب لپاره په لومړي سر کې په نه کرنیز او د کرنې سربېره په نورو فعالیتونو باندې متکي وي. په هرحال، دواړه ډلې بنسټیز ثبات ته اړتیا لري: د شخصي حفاظت ډاډمنول او د شخړو د حل لارې سیستمونو ته په مساوي توګه لاسرسي.

د ټولنیز خوندیتوب د نتیجو په برخه کې، له یو ساده طرحې یا لارې څخه کار اخستل هڅول کېږي: د خوندیتوب اساسي فعالیت او د منولو وړ فرضیاتو حداقل بریا ته باید د رسېدو کوښښ وشي. هغه وسیلې د کوم پذریعې چې دا کامیابېدی شي د بدلېدو وړ دي، چې د خوړو د برابرولو او کارکوونکو ته د نغدو پیسو د برابرولو پورې حدود لري، خو دا هغه موضوع ګانې دي چې تشخیص ته اړتیا لري. اصلي موضوع دا ده چې دا باید د بسیا کوونکي تناسب، مهال او باوري توب څخه برخمنې وي تر څو خوړو ته د اغیزمن تحفظ برابرول، یقیني کړي. د خوړو د خوندیتوب ارزونې چې د ملي خطر او زیانمننې د ارزونې د اداری لخوا پغاړه اخستل کېږي، د بېلګې په ډول، د ارزونې یوازې یوه لار/موخه به چمتو کړي.

د حکومت*داری* د جوړښت په برخه کې، بیا هم د ساده طرحې یا لارې تجویز کېږي[۲۷]: د شخص او شخصي ملکیت د خوندیتوب او همدارنګه د شخړو او لانجو د حل لارو د سیستمونو عملکرد د ډاډمنولو له لارې د بنسټیز ثبات تأمینول به هم د لاسرسي مساوات او هم پایلې چمتو کړي. پدې اړه ښايي یو لږ شمېر منظم لومړني معلومات (ډاټا) راغونډ شوي وي، او همدارنګه دا یوه ضروري مسأله ده ترڅو د ګډ امنیت او بحران وړاندوینه او د هغې ارزونه په لاره واچول شي او د شرایطو سره سم ورته پراختیا ورکړل شي. دغه اټکل چې د بنسټیز ثبات په اړه د کورنیو تجربې ارزوي، باید د یوې غوره او منظمې برخې په توګه په پام کې ونیول شي.

بالاخره، د هغو سیمو د اقتصادي پرمختګ لپاره چې د کوکنارو کرل پکې په لوړې او منځنۍ کچه امکان لري، د سوداګریزو توکو د دوام موندونکو بازارونو موجودیت به هغو بزګرانو ته چې د منابعو او امکاناتو له پلوه شتمن دي، د کوکنارو له کرنې څخه د بهر کېدو فرصتونه په ګوته کړي. دا به په بازار کې ګډون او تولیدوونکو ته د عوایدو او همدارنګه د پټې محصول او د کورنۍ د عوایدو ارزونې ته چې د سوداګریزو توکو د بازار، نرخونو او د سوداګرۍ د شرایطو د تحلیل له لارې ترلاسه کېږي، اړتیا ولري. د نورو ټولو سیمو او کورنیو لپاره، غوره موضوع ګانې د کار د بازارونو عملکرد، د

[۲۷] د مریلي ګریندل د لیکنې په اساس، "د پرمختیایي پالیسۍ بیاکتنه

معاش کچې او د کورنيو د ثبات لپاره د بسيا کوونکو کاري فرصتونو برابرول دي. دلته، د کار د کليوالي بازارونو د هراړخيزې او دقيقې تجزيې اړتيا ليدل کېږي ترڅو د استخدام د ډېر فرصتونه او د معاش په درجه کې مثبت بدلونونه وښيي.

د ډېرى منظمې او ورځنۍ سروې او د کليوالي اقتصاد د تحليل او تجزيې لپاره پاسني استدلالونه په بشپړ ډول هغه څه دي چې او سمهال يې ژمنه کېږي.

بالاخره، د يو شاخص په حيث د کوکنارو سيمه بايد د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د پاليسۍ د صحت د کنټرول په توګه وکارول شي، او بايد د يو شاخص (د اندازه کولو معيار) په څير و نه منل شي، تر هغه وخت پورې چې د نورو بدلونونو رامنځته کېدل روښانه شوي نوي. که چېرې د کوکنارو په سيمه کې کال په کال کمښت رامنځته شي او د کمښت په څارنه او د کورنيو په ټولنيز خونديتوب، بنسټيز ټيکاو، عوايدو او استخدام کې مثبت پرمختګ ثابت شي، نو بيا دا به د نشه يي توکو د بريا په هکله شواهد مستند او قانوني کړي.

په پای کې، پاملرنه هغه حقيقت ته اوړي—چې د کچ کولو توصيه شوی معيار په مشخصه توګه د نشه يي توکو شاخصونه ندي بلکه د کليوالي معيشتونو په ثبات کې د بدلونونو مقياسونه دي. دغه مقياسونه د کوکنارو له کرنې څخه د دوامداره انصراف لپاره لازم مخکيني شرايط منعکسوي. دا د نشه يي توکو پروړاندې د پاليسۍ له اړتيا سره تړلی ده چې بايد په بشپړه توګه د کليو د پراختيا په پاليسۍ کې ورته ځای ورکړل شي او په پرمختيايي پاليسۍ او پروګرام جوړونه کې د نشه يي توکو د پاليسۍ په وړاندې د پرمختګ مرستندويه وي.

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره (AREU) يوه خپلواکه څېړنيزه اداره ده چې په کابل کې موقعيت لري. ددغه ادارې ماموريت د لوړ کيفيت څېړنو تنظيمول دي تر څو پد يو سيله پاليسي او کړنلار متأثره او آګاه کړي. همدارنګه، دغه اداره په افغانستان کې د تحليلي ظرفيت د پياوړي کولو پواسطه د څيړنې او زده کړې کلتور ته په فعاله توګه وده ورکوي او دغه راز په سيمه کې د موجودو ستونزو په هکله نظريو او مباحثو ته لار هواروي. د دغې ادارې بنسټيز ليد دا دی چې کار او فعاليت يې بايد د افغانانو په ژوند کې ښه والی رامنځته کړي.

د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې ټولی خپرونې د راښکته کولو لپاره په دغه ويب پاڼه www.areu.org.af کې د لاسرسنې وړ دي او چاپ شوی کاپی يې د دغه ادارې له دفتر څخه ترلاسه کولای شئ، زمونږ پته:

د ګل فروشۍ کوڅه، د دوهمې کوڅې ګوټ، نوی ښار، کابل

د تيلفون شمېره: 548 608 799(0) 93+ ، ويب پاڼه: www.areu.org.af، برېښنا پته: areu@areu.org.af